
# نا اشنا سندرې



لیکوال

پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح

Ketabton.com

۱۳۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نا اشنا سندرې

لیکوال: **پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح**
خپروندی: **مجروح فلسفي اکاډمي**
د خپرېدو کال: **۱۳۹۹هـ/ ۲۰۲۱م**
د خپرېدو ډول: **ډیجیتال**
ډیزاین: **هارون صافی**
ملاتړ او همکاري: **انسان خپرنیزه موسسه**

یادښت:
د پوهاند مجروح د کتابونو دا مجموعه د انسان خپرنیزې موسسې په همکارۍ چې د مجروح د فلسفي اکاډمۍ اصلي ملاتړی بنسټ دی، بیاځلي خپرېږي.

www.majrooh.org
info@majrooh.org

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادښت

په ۲۰۰۱م کال کې په افغانستان کې د نوي نظام د پیل راهیسې تر ننه پورې د هېواد د روشنفکرۍ د ډگر یوه مهمه ستونزه د نږدې ۴۰ کلنې انقطاع په پایله کې رامنځته شوې تشه ده چې په پایله کې یې زموږ د اوسني ځوان روشنفکر نسل معرفتي اړیکه د خپلو اسلافو سره شلولې ده. په بل عبارت د افغانستان نوي نسل ته چې په تېرو ۲۰ کلونو کې روزل شوی دی، تاریخ تر ۲۰۰۱ وروسته پیلېږي. دا نسل تر جگړې وړاندې افغانستان کې د تولید شوي معرفت سره ډېره لږه بلدتیا لري او له همدې امله په معرفتي ډگر کې د هېواد د د یوې معلومې او مشهودې جزیرې د بیاځلی پلټنې او کشف په هلو ځلو کې سرگردانه دی. دې ستونزې ته په کتلو سره زموږ یو رسالت دا هم دی چې د یو ارتباطي پله په توگه نن له پرون سره وصل کړو.

د افغانستان نومیالی فیلسوف، شاعر او لیکوال پوهاند ډاکټر سید بهاؤالدین مجروح د ۱۹۲۸م میلادي کال د فبرورۍ په ۱۲مه د کونړ ولایت د اسمار په ولسوالۍ کې وزیږېدلو او د ۱۹۸۸م میلادي کال د فبرورۍ په ۱۱مه نېټه په پېښور کې په مرموز ډول شهید شو.

پوهاند مجروح په فرانسه او جرمني کې د ادبیاتو او فلسفې په ډگر کې د دوکتورا تر کچې زده کړې وکړې او بیا په کابل پوهنتون کې د فلسفې استاد پاتې شو او تر څنگ یې یو شمېر اداري دندې هم ترسره کړې.

د پوهاند مجروح د زده‌کړو منځپانگه او د ژوند اصلي رسالت د غربي فلسفي مکتبونو او د شرقي – اسلامي فلسفې څخه د یو په زړه پوري سنتېز رامنځته کول وو. مجروح د افغانستان په معاصر تاریخ کې ممکن لومړنی فیلسوف وي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرب فلسفه یې د شرق د عرفان سره په ګډه مطالعه کړه او په پایله کې یې د ځایي معرفت بې ساری متن تولید کړ. په بل ساده عبارت هغه فلسفي مباحث چې نوموړي د فرانسې او جرمني په پوهنتونونو کې لوستلي وو، د افغان انسان لپاره د ځایي معرفت سره پخلا او د عیني واقعیتونو په نظر کې نیولو سره یې په ساده ژبه بیان کړل.

د پوهاند مجروح نږدې ټولو آثارو په مرکز کې د نفس، ژوند او آزادۍ د اصطلاحاتو د معنا او مفهوم پلټنه ده. د بېلګې په ډول « د جبر او اختیار په ډیالکټیک » کې د بېلابېلو فلسفي بحثونو په محور کې د ځانپېژندې او انسانپېژندنې تر څنګ د فلسفي مکتوبونو اړوند مباحث شامل دي چې په ساده پښتو لیکل شوی دی. د پوهاند مجروح تر ټولو مهم اثر بیا «ځانځاني ښامار» دی چې په ٦ دفترونو کې لیکل شوی دی او په فلسفي او سمبولیکه ژبه یې د انسان، ټولنې او سیاست په اړه بحث کړی دی. د نوموړي په وینا ځانځاني ښامار د هر هغه بنیادم کیسه ده چې په خپل ځان کې بتان جوړوي او بیا یې عبادت کوي. په حقیقت کې همدا ښامار دی چې هر انسان یې په خپل ځان کې روزي او بلاخره یې همدا په خپل لاس روزل شوی ښامار تر ستوني تېروي.

د محروج فلسفي اکاډیمۍ په پام کې لري چې د ٢٠مې پېړۍ ددې نومیالي فیلسوف (١٩٢٨- ١٩٨٨) د ٩٣مې کلیزې او د ٣٣م تلین په مناسبت د نوموړي یو شمېر آثار په وړیا ډول خپاره کړي. په دې آثارو کې (د جبر او اختیار ډیالکټیک)، (د ځانځانی ښامار- اژدهای خودی ٦ دفترونه)، (ناآشنا سندرې) او (سید جمال الدین و برخورد شرق و غرب) کتابونه شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې آثارو د خپرولو اصلي موخه نوي ځوانانو ته د پوهاند مجروح د معرفۍ سربېره په روشنفکري ډګر کې د جګړې وړاندې افغانستان له روشنفکرانو سره د نوي روشنفکر نسل نښلول دي. سربېره پر دې د هېواد په اوسنيو حساسو شرايطو کې پر ټولو فرض ده چې ددې پړاو ځانځاني ښاماران وپېژني. اوسمهال زموږ ټولنه د پوهاند ډاکټر سيد بهاؤالدين مجروح آثارو ته تر بل هر وخت ډېره اړتيا لري.

په درنښت

مجروح فلسفي اکاډيمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

شاعر او زمانه ........ 8
د وطن مور ........ 32
د کـونړ سینـد ........ 46
پــــلار ته ........ 50
دکونړ پر سیند تقریظ ........ 51
لاروی ........ 53
دریاب ........ 54
لاروی ........ 55
د لرغونو افسانو ........ 58
قهرمان ........ 58
د قیامت استازی ........ 60
ازلي ګناهګار ........ 64
د خندا سیلاب ........ 66
دریاب ........ 69
دریـاب ........ 74
جنتیان او دوزخیان ........ 75
د عذاب پرښتې ........ 78
یو داستان ........ 80
نوي پیامبران ........ 87
سرتور ملنګ ........ 91

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه دریاب ........................................ 96
د یوې افغانې مور (پیغام) ........................................ 100
د ژوند کیسه ........................................ 105
گرانه زویه! ........................................ 107
نا اشنا سیلاب ........................................ 109
د کلي ژوند ........................................ 112
جلاد خان ډاکو ........................................ 114
"شینا" غوبه ........................................ 116
خان زرین خان ........................................ 117
نوروز آهنگر ........................................ 118
تور طالب ........................................ 119
محمد صادق ملا ........................................ 120
سور گل معلم ........................................ 121
ابراهیم ملك ........................................ 123
د زړه خبرې ........................................ 127
د جهاد سندره ........................................ 131
توره بلا ........................................ 134
د بنگړو شرنگ ........................................ 139
د زلفو زنځیر ........................................ 140
ساقي ........................................ 141
خوږې سندرې ........................................ 142
شینکي خالونه ........................................ 143

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نا اشنا سندرې

## شاعر او زمانه

*شاعر:*

**هر ماښام هر مازیګر یم، د ګودر په لوري تللی،**
**نیمه شپه پټ، پټ ورغلی په پالنګ یې ورختلی،**
**هر سهار د بنګړو شرنګ یې زه له خوبه پاڅولی،**
**په تیاره کې د چرګ بانګ یې بیا له غېږ نه یم شړلی،**

❁❁❁

**دا شینکی خال دمه جبین،**
**پیکی اوربل، سرکي لبان هم**
**دسرو پیزوان، هار لونګین**
**دزلفانو ښاماران هم**

**هم خرام، خرام راتللې تلل**
**ما تل ستایلي دي تل**

**په خزان او په بهار ما**
**تل د ګل زیړ رنګ لیدلی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلبلـــــــــو چغهـــــــــار مـــــــــا
غـــــم مـاتـــــم د عشـــــق بلـــــلی

❋❋❋

د شـمعې پـه رڼـا کـې مـا ژړا لیـدلې ده
ستي پتنگ ایـرو کې مـا وفـا مـوندلې ده

❋❋❋

ننـــــگ نامـــــوس نجونـــــو ســــتایلی
پـــــه پېغـــــور یـــــم شرمـــــولی
پـــــه مورچـــــو یـــــم خېژولـــــی
د مـــرگ لـــور تـــه یـــې استولـــی

❋❋❋

د ناشـــنا سنـدرې ډکـې پیمانـې راواخلـه
پـــه ژړا مـــې ژړولـــې زمانـــه ده
پـه سلگـو، سلگـو لـه ځانه شـوم ستومانه
لټـوم اوس بـل جهـان بهـر لـه ځانـه

❋❋❋

ساقـــي راپاڅـــه! نـــوی جـام نـوي شراب غـــواړمه
بل شان خیال، بل شان سوال بل شان ځواب غواړمه
زوړ فصل پرېـږده نـوی بـاب نـوی کتـاب غواړمـه
د نـا اشـنا لــرې ملکونـــو افســانې راواخـــله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نـــا اشنـــا ســـندرې ډکـــې پيمانـــې را واخلـــه

❁❁❁

***زمانه:***

**اې شاعره ليونيه!**

**زما نوم دی زمانه**

**ماته وايي د عمرونو پيمانه**

**ځواني مې بې زواله**

**ښکلا مې بې مثاله**

**زه ساقي يم**

**خو ساقي د مرګ او ژوند زړو شرابو**

**خو هرچا ته په هر ځای او په هر وخت کې نااشنا دی**

**ځکه يو وارې ځکل کېږي**

**د ژوندون سندره ډېره پخوانۍ ده**

**خو هر چاته په هر ځای او په هر وخت کې نوې ښکاري**

**ځکه يو وار ويل کېږي:**

**د ژوند او مرګ رښتيا سندرې**

**پخوانۍ که اوسنۍ وي**

**تل به نوې نااشناوي**

**تل به وي د عشق د سوز سندرې**

**راشه واوره افسانې د ژوند او مرګ څو،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاويدانه ترانې دعشق او مينې....
(اور فيوس) (اوريديسه)
داسې وايي په قديم، قديم يونان کې
ستا په شانې يو شاعر و ليونی
په نامه د (اورفيوس)
خوږ اواز يې د جذبو ساز و سرود و
په سندرو کې يې پټ د عشق پيغام
نر او ښځې، لوی واړه به غونډېدل پرې
د نغمو سحر و جادو يې
محوه کړی ټول جهان و
دهوامرغان غوږ د ده اواز ته
غرڅنۍ، زمري، ليوان ورته ارام شول
باد به ودرېد
سر دونو ورته ځوړند
روان سيند، روان رودونه ډنډېدل
تېرې کاڼي نرمېدل

*"اوريديسه"*
يوه پيغله نازنينه
په ښکلا بدرجماله

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسمان د ستورو ناوې
شوه مېينه په "اورفه"
عاشقان سره واده شول
خو د وصال شيبې وې لنډې
يوه ورځې "اوريديسه"
ګرځېده د سويلو سره
په دښتونو، چمنونو
يو شپونکی يې له جماله ليونی شو
چې راګير کړي "اوريديسه"
ويلې: دا مرغۍ به ساتم
د خپل خوږ زړګي پنجره کې
"اوريديسه" وارخطا په منډه، منډه
تښتېدله په دښتو په غرو رغونو
يو تور مار و پروت کړۍ وړۍ په لار کې
(اوريديسې) پرې پښه کېښوه ناڅاپه
دا اغزی زهر مهلك و
"اوريديسه" له دنيا لاړه
"اورفيوس" په واويلا شو
په ژړا يې ګريوان لوند کړ
د اسمان ځلانده ستورو نه يې ګيله کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارواګانو، خدایانو ته یې زاري کړه
اجازه یې د سفر غوښته د بلې دنیا خوا ته
چې پیدا کړي خپله ورکه "اوریدیسه"
نو روان شو د تورتم جهان په لوري
دارواحو د امواتو قلمرو ته
"تناروس" دغار له خولې نه
ښکته لاړ د ځمکې تل ته
لومړی تېر شو د ارواحو داشباحو له هېواده
د تورتم د دنیا ستر واکمن "پلوتون" و
ستر واکمنه "پروز رپینه"
"اورفیوس" ورته حاضر شو په دربار کې
"اورفیوس" به دا سندرې
په زارۍ، زارۍ، یې داسې ورته عرض کړو
"اربابانو؟" اې دمرګ او د سپوږمۍ زمامدارانو(؟)
دامواتو داشباحو دارواحو بادارانو
ټول ژوي راروان اخر رارسي دې دنیا ته
هېڅ لاره کومه چاره بله نشته بلې خوا ته
زه نه ثروت، نه خزانې، نه کوم قدرت غواړمه
یم په نامه دعشق راغلی عدالت غواړمه
خپله دنیا د خپل ژوندون پټه معنی لټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپله میینه "اوریدیسه" دلربا لټوم**

**دژوند دنیا نه ډېر بې وخته بې له ما راغلی**

**دعشق او ژوند قانون مات شوی نیمه خوا راغلی**

**یو وارې "اوریدیسه" ژوندۍ را د عشق په پاس بیا**

**پخپل وخت به حاضر شو دې دربار ته لاس په لاس بیا**

**"اورفیوس" به دا سندرې**

**په خواږه او په غمجن اواز ویلې**

**دا نغمه دومره خوږه وه سحرامیزه**

**چې تورتم کې ارواګانو به پرې اوښکې تویولې**

**دوزخي دنیا ساکته شوه حیرانه**

❁❁❁

## *"پروزرپینه"*

**د تورتم دنیا واکداره ستر واکمنه!**

**په ژړا شوه**

**ها بې ر حمه "پلوتون"**

**بادار دمرګ او ژوند**

**ستر ټولواك د جهنم هم زښت غمګین شو**

**"وریدیسه" یې احضار کړه**

**داړواحو له کتاره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**"اوریدیسه" مار چیچلې**

**گوډه، گوډه رانږدې شوه**

**(اورفیوس) کړله حاصله اجازه د ستنېدو**

**دژوند دنیا ته**

**خو په یو شرط:**

**چې تر څو دمرگ او ژوند له سمندره پورې نه وځي**

**تر خپل شا به "اوریدیسه" ته نظر نه کړي**

**"اورفیوس" په مخ روان شو**

**"اوریدیسه" ورپسې**

**په تیاره تورتم دنیا کې**

**د چوپتیا په دهلیزو کې یې سفر کړو**

**د نااشنا سمندر غاړې ته ورو، ورو ورنږدې شول**

**دا هغه مرموز دریاب و**

**چې تیاره یې له رڼا جدا کوله، مرگ او ژوند یې یو له بله بېلولو**

**"اورفیوس" د خوشالۍ نه هر څه هېر کړل**

**شاته یې وکتل چې پوه شي**

**"اوریدیسه" پسې روانه ده که نه؟**

**"اوریدیسه" یې ولیدله**

**چې روانه ورپسې وه**

**اما یو د سترگو رپ و**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو دیدار و اخرین**

**یو د بل غېږ ته نږدې شول**

**غېږ کې تش خالي هوا وه**

**بیا غبار شو، بیا دمه شوه**

**د تورتم دنیا په لوري "اوریدیسه" بیا ستنه شوه**

**"اورفیوس" د دریاب ها خوا**

**د ژوندو په ساحل پرېووت**

**بیا ژړا بیا یې واویلا کړه**

**خو افسوس!**

**دا مواتو بیړۍ داسې جاله وان و**

**هم سنگدله هم بې رحمه**

**د بې رحمو په فرمان و**

**"اورفیوس" یې نږدې پرېښبود کشتۍ ته**

**وږی،تږی گرځیده د سیند په غاړه**

**په شپو ورځو یې نه خوب و نه ارام**

**کاڼو، بوټو به ژړل د ده په حال**

**د مرغانو ځناورو زړونه خوږ شول**

**"اورفه" اوښکې تویولې**

**نغمې د عشق او مرگ به یې**

**په خوږ اواز ویلې، نه یې ځمکې نه اسمان ته اعتناوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه دنجونو د ښکلا، د محبت ورسره پروا وه**
**شپه او ورځ د خپل عشق په غم کې ډوب**
**ښکلو پېغلو ورته دام د زلفو کېښود**
**خو "اورفه" د زړه مرغۍ نه شوه راګیره**
**پاس د خیال په اسمانو یې جګ پرواز کړو**
**اخر نجونه شوې "اورفه" ته په غضب**
**یوه ورځ شولې راغونډې**
**نیت یې وکړو**
**چې "اورفه" به ځوروو نور**
**چا ډبره، چا نېزه کړله ترلاسه**
**هره تېره یا نېزه چې د "اورفه" په لوري تلله:**
**د نغمې خواږه اواز به نرموله**
**"اورنیوس" د پښو خاورو ته لوېدله**
**نجونې ډېرې په غضب شوې**
**په دې نیت چې کړي اواز دنغمې ورك**
**نو په چیغو شور ماشور یې کړو لاس پورې**
**اخر ورسیده تېره خپل هدف ته**
**یوه نېزه هم د "اورفه" په وینو سره شوه**
**پیغلې ټولې له غضبه لیونۍ وې**
**د "اورفه" بدن یې ټول ټوټې ټوټې کړو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يو غړی يې له بند بنده جدا کړو
سر يې پرې کړلو درياب ته يې غوځار کړو
د درياب څپو په غېږ کې
د "اورفه" سور خاموش نه شو
نااشنا، نااشنا سندرې يې لا نورې هم ويلې
دسيند پورې هورې غاړو دا نغمې تکرار ولې
د ځنګلونو د سيندونو الهې ته امر وشو
چې راټول کړي د "اورفه" ټوټې بدن
"ليبترا" نومي مقام کې
دې ټوټو وکړو په خاورو کې ارام
داسې وايي:
د "اورفه" په خاورو باندې
يوه شنه ونه ده ولاړه
بې نيازه له بهار او له خزانه
يو بلبل پکې هميش جوړوي ځاله
شپه او ورځ وايي نغمې په هسکه غاړه
خلك وايي:
د دنيا په هېڅ هېواد کې
د بلبل داسې خوږې سندرې هېچا نه دي اورېدلي
"اورفه" لاړو "تاريوس" ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تورتم دنیا په غېږ کې
"اوریدیسې" سره یو ځای شو یو ځل بیا

❁❁❁

***شاعر:***

نااشنا کیسه دې وکړله دلبرې زمانې
دڅه عجب پټه رازونه دې خبرې افسانې
عشق دمرګ په غېږ کې دژوندون معنی پیدا کړي
ژوند بې عشقه مرګ شي په بېلتون بقا فنا کړي
عشق د ژوند لویه معنی ده د شعور په تورو شپو کې
عشق د شپې فاني رویا ده د سهار په پلوشو کې
زه انسان په تا مین یم ستا د غېږې په ارمان یم
تل ژوندی په ارزو باندې زه دعمر جاویدان یم
تل د سترګو په رپ درومې له ماصنم تورتم، تورتم ته
سرګردان ورپسې ځم زه، د اوهامو جهنم ته
دا عالم خزان صحرا ده، ته بهار یې افسانه یې
ته شراب د ژوندانه یې
ته ساقي دمرګ او ژوند دمستې لارې زمانه یې
"اوریدیسه" جانانه یې

***زمانه:***

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې شاعره ليونيه!
ستا جنون کې هوښياري وينمه
په اسرار د عالم پوه يې
چې بېدار په نيمو شپو يې
عشق او مرگ سره ملگری له ابده
عشق او مرگ سره دوستي هم دښمني کړې
عشق له مرگ سره مزلې اوږدې کړې
عشق له مرگ سره منگولې دي ورکړې...
راشه! واوره يوه بله افسانه
شنه لمن د هسکو غرونو
به وي تاليدلې ډېرې
په اوږدو وچو بودرو کې
به دې کړی وي گوزر
اورېدلی خو به تا وي
يو نااشنا غږ مکرر
که اواز دې په چا کړی په دې شان وي
راشه! راشه! زه يم دلته
نااشنا غږ به وي ځواب داسې درکړی
زه يم دلته! زه يم دلته! زه يم دلته!
دا نااشنا غږ د "انگۍ" دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې څواب دهر چا وايي**
**خو هېڅوك يې له داستانه خبر نه دي**

❋❋❋

***انګۍ:***

**وايي، وايي چې پخوا، پخوا يونان کې**
**يوه مشهوره الهه وه**
**ښکلې لور دهسکو غرونو**
**زيږېدلې په ځنګلو کې**
**روزل شوې شنو درو کې**
**مور يې نومورباندې کېښود "انګۍ"**
**په پالنګ د شنيلو به يې ارام کړو**
**د بهار وږمې په شا باندې سپره به ګرځېده ...**
**"انګۍ" سر تر پښو ښکلا وه، زيبايي وه**
**خو درلود يې يو لوی عيب يو بد صفت**
**خبر لوڅه وه بې شانه،**
**ګړېدله به ډېره زياته**
**په خوله حاضر جوابه**
**وروستنۍ خبره تل کړله "انګۍ"**
**يوه ورځ د ورځ "ژونونو"**
**مقتدره رب النوعه چا خبر کړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې میړه یې "ژوپیتر"
د ځمکو اسمانو خود مختاره زمامدار
چېرته پټ، پټ د ځنګلونو او چینو له الهو سره
کوي بوس وکنار
"ژونونه" شو حسوده
تروره ګرځېدله خپل مېړه یې لټولو
مخامخ شوه له انګۍ سره
"انګۍ" پیل کړو په خبرو
"ژونونه" دومره شوه په سوال ځواب مصروفه
چې الهو فرصت پیدا کړو
زر زر لاړې شولې پټې هره خوا
چې "ژونو" شوله خبره له احواله
نو له قهره یې "انګۍ" ته داسې وویل:
اې بې شرمې! خبر لوڅې!
په دې ژبه دې چې زه وغولولم
پس له دې نه به نور هېڅ درپه کار نشي
بس یواځې به پرې وایې تش ځواب
همیشه به وروستنۍ خبره ستا وي
خو هېڅکله به اغاز د کلام نه کړې
یوه ورځې یو نااشنا ښکلی زلمی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په نوم "نرګس"**

**د طبيعت دارواګانو نازنين زوى**
**راوتلى و په ښکار دغرو په لوري**
**لومړى ښکار يې په نصيب**
**د بې نصيبې "انګۍ" زړه شو**
**ليونۍ شوله له عشقه**
**پټه، پټه په نرګس پسې "انګۍ" شوله روانه**
**زړه يې ډك و د خوږو، خوږو خبرو**
**خو اغاز يې د کلام کولاى نه شو**
**منتظره وه نرګس ته**
**چې لومړى يو څه بيان کړي**
**د "انګۍ" اواز تيار په ژبه پروت و**
**يوه ورځ نرګس يواځې ګرځېدلو**
**نور ښکاري ياران ترې ورك وو په درو کې**
**داسې غږ کړ:**
**تاسې چېرته ياست؟ زه دلته يم، زه دلته!!**
**"انګۍ" زر ورته ځواب کړو چې:**
**زه دلته يم! زه دلته!**
**د "نرګس" حيرانوونکو سترګو**
**ها خوا دې خوا وکتل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو هېڅوك يې نه ليدل**

**نو بيا يې غږ کړ:**

**راشه! راشه! دلته راشه!**

**"انګۍ" زر ورته ځواب کړو:**

**دلته راشه! دلته راشه!**

**"نرګس" بيا داسې ناره کړه:**

**ته ما ولې ځوروې، راځه چې سره يو ځای شو؟!**

**"انګۍ" د زړه له کومي په اخلاص په محبت وويل داسې:**

**راځه چې سره يو ځای شو! راځه چې سره يو ځای شو!**

**په جلتۍ شوله نږدې د نرګس خواته**

**چې لاسونه کړي تر غاړې ورچاپېره**

**کبرجن نرګس زر شاته قدم کېښود**

**ورته يې وويل:**

**مرګ مې قبول دی، نه ژوندون مې ستا په غېږ کې**

**"انګۍ" ورته تکرار، تکرار ځواب کړو:**

**ژوندون مې ستا په غېږ کې! ژوندون مې ستا په غېږ کې!**

**نرګس ترېنه روان شو دورې، دورې**

**انګۍ له شرمه پټه په ځنګلو شوه**

**ښکلی جسم يې ورو ورو محوه شو دعشق له غمه**

**غوښې پلې يې په تدريج ويلې کېدې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له هډوکو یې ډبرې جوړېدې**
**خو یواځې باقي پاتې تر ابده یې اواز شو**
**په قدیم عادت تراوسه ځواب وایي، چې څوك غږ کړي**
**اخري اخر خبره به همیشه کوي "انګۍ"**

❁❁❁

***شاعر:***

**کائناتو له ګنبده**
**منعکس د عشق اواز دی**
**ماورا له بنه او بده**
**یو نااشنا عجیبه ساز دی**
**یا زما له زړه ختلی کوم غږ پاس دی**
**را معلومه نه ده**
**دعالم په سمڅ کې ناست پټ پنهانه یې**
**"انګۍ" د زمانې:**
**منتظره زما غږ ته زړه پرېشانه یې**

❁❁❁

***زمانه:***

**اې شاعره لیونیه!!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انګۍ پرېږده پخپل حال**
**راشه واوره، چې په څه شان د نرګس کبر زوال شو**

***نرګس:***

**نرګس یواځې په "انګۍ" ستمګر نه و**
**جفا کاره و بې رحمه**
**ښکلې پېغلې یې ځورولې وې بې شماره**
**الهې یې دردېدلې وې له عشقه**
**یوه ورځ یوې پېغلې**
**چې عبث کوښښ کولو**
**دنرګس زړه د خپل ځان کړي**
**نو له ډېرې نا امیدۍ نه یې دعا کړه:**
**اې نرګسه!**
**جفا کاره، ستمګره!**
**مبتلا دې له خدای غواړمه دعشق په درد او رنځ**
**یوه معشوقه بې پروا، بې رحمه، کبرجنه دې نصیب شه!**
**د انتقام الهې دا دعا قبوله کړله**
**پټه په ځنګله کې یوه چینه وه**
**د ائینې په شان رڼه وه**
**اوبه یې لکه اوښکې ځلېدې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاړې فرش په شنیلو وې
یوه ورځ په غرمه
نرګس تږی، ستومانه
له ښکاره شو راستون، ګوزر یې په چینه شو
سر یې ټیټ کړلو اوبو ته
چې کړي تنده خپله ماته
یو ناڅاپه یې ولید خپل مخ
داوبو په ائینه کې
دنرګس شو دا ګومان
چې کومه ښکلې د اوبو روح
په چینه کې ورښکاره شوه
خماري سترګو حیرانو
سپین جبین پیکی ولول
سرکې موسکې شونډانو غندل غاړې
د نرګس زړګی ویران کړو
لیونی شو
زړه یې بایلود په خپل ځان
نو، نږدې به شو اوبو ته
ورخواره یې کړه لاسونه
خو تصویر به ورکېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



محوه تار په تار کېده
او څو شیبې به وروسته دو باره راښکارېده
زارۍ ګانې به نرګس کولې داسې:
اې بې رحمې! جفا کارې! ستمګرې!
دا څه لوبې ته په ما کوې ظالمې؟
چې درته لاس کړم راته لاس کړې
چې درته خاندم راته خاندې
چې درته ګورم راته ګورې
خو چې درنږدې شمه خولګۍ وغواړم
نو رانه لرې ځې پټېږې ولې؟
زما ښایست د جهان نجونې کباب کړې هره خوا
زما ځوانۍ دالهو زړونه داغ کړي دي ډېر
ته ولې ماته اعتنا نه لرې؟
یوه اوښکه یې له سترګو نه راتوی شوه
په چینه کې ولوېدله
داوبو په ائینه کې یې تصویر کړو تار په تار
"نرګس" شو له فراقه اندېښمن
نو یې داسې هیله وکړه:
دلبرې نازنینې!
که خولګۍ نه راکوې مه راکوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غېږ ته نه راځې، نو مه راځه هېڅ
خو پټېږه رانه مه
تش دیدار دې زما بس دی
اجازه راکړه چې تل دې تماشه وکړمه
"نرگس" هیر ځان او جهان کړو
بې خبر دلوړو تندو د چینې په غاړه کېناست
تماشا یې دخپل مخ کړه
زېړی رنګ یې زیاتېدلو
ښکلا یې کمېدله
ځواني یې کمېدله
په قدم، قدم د مرگ خواته روان شو
کله، کله به یې چیغه کړه له زړه نه:
ارمان، ارمان! افسوس، افسوس!
نو، "انگۍ" به دا د درد چیغه بیا تکرار وله:
ارمان! ارمان! افسوس! افسوس!
د مرگي دریاب کې ډوب شو اخر
د سیندونو الهو!
ارواگانو داوبو
توی داوښکو بارانونه کړلو
د چینې غاړې ته لاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنرگس کالبد يې هر خوا لټولو
چې پرې جوړ د عشق زيارت کړي
مگر لټه بې فايدې وه
دکالبد کوم اثر نه و
خو په هر ځای يې د چينې نه
راشين شوی نااشنا گل و
لکه سترگه وه حيرانه
تماشا يې دجهان کړه
په مخ کې زيړی رنگ
گير چاپېر ترې سپينې پاڼې
د دغه ښکلي ځوان د غمجنې خاطرې په يادگار،
په دې گل باندې نوم کېښود شو: "نرگس"

❁❁❁

## *شاعر:*

لاروی دنيمې شپې يم
لرې، لرې مزلونه کړم بې ځايه
بې خبره ورپسې يم
نه پيدا کوم دمه ځای ښکاري له ورايه
ستا کمال زما جمال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**میین شوی یم پخپله په خپل ځان**
**لنډه لار دلته وصال دی**
**دحیوان چینه ده زړه دهر انسان**
**د نرگس سترگې حیرانې**
**سرگردانې په سراب د ائینه کې**
**امیدونه، ارزوگانې**
**قطرې اوښکې دي د دهر په چینه کې**

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وطن مور

*د کوچني اختر په مناسبت*
*دمیزان ۲ مه ۱۳۵۵ کال، کابل*

**زمانه شوله اخره**
**عجيبه خبرې اورم**
**د وطن مور ته يو چا داسې وويلې:**
***لاروی:***
**اې دوطن مورې!**
**په ما گرانې په زړه پورې!**
**زار قربان دې له میرو شه**
**دسپېرو شړو دښتو شه!**
**خو لعنت دې په بچو شه!**

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اې دوطن مورې په ما گرانې!!**
**نن اختر دی، بختور دی**
**دا کميس دې پرون تور و**
**نن هم تور دی**
**خړ پرتوگ دې خيرې، خيرې**
**نوی نه شو،**
**خو! اختر دې مبارك شه**
**گرانې مورې!**

❁ ❁ ❁

**اې دوطن مورې!**
**ښه دی، ښه دی**
**چې پرتوگ دې خړ بخن دی**
**خېرې، خېرې**
**د هېچا نه پکارېږي**
**نه خرڅېږي**
**ځکه ستا بچي ډېر زښته نارينه دي**
**خرڅوي د مور پرتوگ هم**

❁ ❁ ❁

**اې د وطن مورې!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا بچی ځنگه، بچی دي؟**
**انسان نه دی**
**دی پخپله هم هېڅکله،**
**ځان ته نه وايي "انسان" يم**
**کله وايي "زه مرغه يم"**
**بيا پيښې کړي دمرغانو**
**کله وايي "ځناور" يم**
**په څلورو شي روان بيا**

❁❁❁

**اې د وطن مورې!**
**ستا بچی خو انسان نه دی**
**راته ووايه خپل راز اوس**
**تا راوړی دی له کومه؟**
**له کوم اصله، له کوم ذاته، له کوم نسله؟؟**

❁❁❁

**اې د وطن مورې!**
**راته ووايه خپل راز اوس**
**ته چې پېغله ښايسته وې**
**څه پسات درباندې وشو؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دانګړ تر شا بېديا کې**
**ستا کوم غل د لارې مل شو؟**
**يا د شپې په تروږمۍ کې**
**څه بلا وه؟**
**په پالنګ دروختله**

❁ ❁ ❁

**ستا بچی وايي:**
**"ځناور يم" خو باچا د ځناورو**
**زه يم زمری په دې نړۍ تر ما اتل نشته،**
**بل په کابل نشته، بل په زابل نشته،**
**په رښتيا چې ځناور دی**
**خو باچا د ځناورو**
**بې کسانو، بې وزلانو ته شين پړانګ دی**
**غوښې خوري د کونډو رنډو يتيمانو**
**ماتوي ورور او تربور خپل**
**چې زور زيات وربانديې بر شي**
**نو ګيدړ شي**
**چل وټې کړي**
**ځغلوي د کور چرګان بيا**

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا عجیبه ځناور دی
ځکه هېڅ ځناور داسې کانې نه کا
چې قوي وي خپل خپلوان خوري
خپل همنوعي ناتوان خوري
بیا چې زور ورباندې بر شي
څوړ غوړوونه لکه خر شي
ملا یې ماته،
ظلم او زور ته تسلمېږي
استبداد ته غاړه زر ږدي
هم د ده له برکته
استبداد راپیدا کېږي
ساتل کېږي
هم بېداره، وفاداره
د قدرت درگاه ساتینه
د زړو جامو خاوند ته غاپي لاپي

❁ ❁ ❁

اې دوطن مورې!
راته ووایه خپل راز اوس!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انسانان خو داسې نه وي**

❁❁❁

**کله وايي:**
**زه مارغه يم**
**جګ پروازی، لوړ همتی**
**ډېر نيکه زما عقاب د اريانا دی**

❁❁❁

**اې دوطن مورې!**
**خدای ته وګوره کيسه دې راته وکه!**
**چې مارغه ته څنګ واده شوې؟**
**څه در وشو؟**
**انسانان خو داسې نه کړي**
**هګۍ نشي اچولای**

❁❁❁

**خو دا څرنګه عقاب دی؟**
**بې غيرته؟**
**چې شاهين پرې رانبکاره شي**
**له اوچته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا سر کوزی**
**د وښو لاندې پټېږي**
**سر په خاورو کې دننه**
**لکۍ پورته**
**دی عقاب نه دی، تېپوس دی**
**لټوي په ډېرانونو کې مردارې**
**گنده يې کړې شوديارې**

❁❁❁

**اې دوطن مورې!**
**په ما گرانې په زړه پورې!**
**دا بچی که ستا بچی وي**
**تف لعنت دې په دا هسې زيږېدو شه**

❁❁❁

***مور:***
**لارويه، زما زويه!**
**ځواني مرگ شې**
**گډې وډې نورې بس کړه!**
**تېپوسونه رانه مه کړه!**
**پېغله مسته بې خبره د دنيا وم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هوا به ګرځېدمه
ترڅو ناڅاپه لینګي مې په هوا شول
خبر نشوم څه راوشو...
اې زما نا اهله زویه!
څه تپوس کړې؟
دا زړې خبرې ولې یادوې ته؟
په پرهار باندې مې مالګې دوړوې ته
تېر وختونه خو تیر شوي
اوس مابنام دی
شپه نږدې ده
تیرې شوې زمانې څه پکارېږي؟
دا نن شپه راته بلا ده
د سبا ورځې ډارېږم

❁ ❁ ❁

په ما هر پسات چې کېږي
د شپې کېږي
وهل کېږم، تړل کېږم
په تورتم کې
چې سبا شي بیا خبر شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې بچو، خپلو بچو یمه تړلې**
**یوه بل نوي میړه ته یې واده کړې**
**یو تربور یې دی شړلی**
**بل تربور ته یې ورکړې**
**په دې شانې خرڅوي ما**
**په ظالمو، مستبدو، زورورو**
**په بار، بارې ودوي ما**
**عمر تېر شو،**
**ناوېتوب مې نه ختمېږي**
**دا چې ته ورته تاریخ وای**
**څه بیان کړې؟**
**داسې وایې:**
**(یوه ناوې وه چې سل کرت واده شوه)**
**هغه زه یم،**
❁ ❁ ❁

**اوس نو وایه!**
**چې په زور ظلم واده شي**
**څو، څو واره**
**په جبري نکاح پالنګ ته راښکل کېږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په رڼا ورځ سره ډولۍ کې راوړل کېږي**
**بیا چې شپه شي توره شپه شي**
**په زوړ کټ کې تړل کېږي**
**وهل کېږي،**
**چې تا ولې بکارت نه دی ساتلی؟**
**اوس نو وایه!**
**د دې هسې مور اولاد به څه اولاد وي؟**
**زما لږ غوندې امید و**
**دا بچی به خدای رالوی کړي**
**سړیتوب به له چا زده کړي**
**دروند نظر به راته وکړي**
**ظالمان به رانه وشړي هر خواته**
**په خپل منځ کې به سره کېني**
**د انصاف او عدالت تړی به کېږدي**
**خو لا اوس هم**
**دوی بچي دي سړي نه شول**
**مور یې یوه: بېل بېل پلرونه**
**یو له بل سره دښمني کړي، تربګني کړي**
**دوی پخپله راولاړ شي**
**یو مېړه راته پیدا کړي زورور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



واك اختيار په لاس کې ورکړي
بيا ژړا کړي واويلا کړي
ماته ناست وي
راته وايي:
چې دا پلار مو پلندر دی
په مورِ ظلم او ناروا کړي
لاروېه، زما زويه!
ښه په ياد مې هغه شپه ده
زه بېده وم
ناڅاپي په ما خورې شولې منګولې
څو له ځانه خبرېدمه
لاس او پښې مې وې تړلې
خوله مې بنده،
د قرنونو تجربه تکرارېدله
شومه غلې
ماوې وکړئ بچو وکړئ ، هر څه وکړئ!
لږِ لږِ، ورو ورو،
چې سبا سهار رڼا شوه
نو کتل مې
يو مېږه په کور کې ناست و

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بدهیبتی**

**بد اشنا د تېر کلونو**

**دا خو هغه لیونی زما سردار و**

**چې له خدایه مرور و ، تل بندګانو ته په قار و**

**یوه شیبه یې ماته شا کړه مرور شو**

**لاړو کېناست چېرته غلی**

**په کلو، کلونو وروسته اوس و بیا یو ځل راغلی**

**زړه مې ووې: څه خبر یې، دغه زوړ اشنا چې بیا پټ پټ راغلی**

**کوم افت، کوم مصیبت یې دی لکۍ پورې تړلی**

**خو، بچو بد ذاتو ووې:**

**دا سړی نوی سړی دی**

**هغه نه دی**

**زمانه ده نوې شوې**

**پخوانۍ زمانې لاړې**

**بیا به هېڅکله را نشي**

**تېر وختونه، زور ظلمونه**

**نوی باب، نوی کتاب دی**

**نوی ژوند دی،**

**انقلاب دی،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سبا دنیا رڼا ده
تروږمۍ به نوره نه وي
❁❁❁

خو چې شپه شوله تورتم شو
بیا هم هغه ټکول وو راښکول وو
د قرنونو تجربه تکرارېدله
شومه غلې
څه موده لاتېره نه وه
چې زما بچي بد ذاتي
راته راغلل
په ژړا په واویلا شول
چې دا نوی پلار تر نورو هم ظالم دی
هم وهل، هم ټکول کړي
هم وژل کړي
***
اې زما کمبخته زویه! لارویه!
دا زړې خبرې ولې یادوې ته
په پرهار باندې مې مالګې دوروې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تېر وخت رايادول څه پکارېږي؟**
**دا نن شپه راته بلا ده**
**له سبا ورځې ډارېږم**
**چې به کله ما تړي څوك**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یچ مــوجی از کنـاراین محـیط اگـاه نیســت**
**من زخـود بیـرون روم تا ساحلـی پیــدا کـنم**
**"بېدل"**

# د کــونړ سینــد

## اې زما د زړه دریابه!...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوټ:**

**دا منظومه د ازاد شعر په بڼه په کال ۱۳۵۵ دعقرب په ۲۱ مه، د جمعې د ورځې په ۱۲ بجو د پشد د جالې په غاړه شروع شوه. زه هلته د استاد"حبیبي" په ملګرتیا له یوه رسمي هئیت سره تللی وم او د سید جمال الدین افغاني د زیږېدو د ځای پوښتنې مو کولې.**

**استاد حبیبي له هئیت سره پشد ته پورې ووت او په زیارتونو ګرځېده او دعا یې کوله چې که خدای(ج) د هغو زیارتونو له برکته ورته د سید او هغه د پلار د زیږېدو او استوګنې ځای ور وښایي، مګر څرنګه چې ما د کونړ سیدان پېژندل، د هغوی د پلرونو او نیکونو له کراماتو څخه خبروم او ښه پوهېدم چې هغوی به د استاد حبیبي دعا هیڅ قبوله نه کړي، نو ځکه په زیارتونو پسې لاړ نه شوم.**

**د جالې په غاړه دهغوی په انتظار کښېناستم او د کونړ سیند په تماشه شوم.**

**رښتیا هم د کونړ زیارتونو استاد حبیبي ته هېڅ ځواب ونه وایه، مګر د کونړ سیند زما سره خبرې وکړې او له هغو خبرو څخه دا منظومه جوړه شوه، بیا دا د ازاد شعر منظومه ښاغلي بینوا ته اهدا شوه، بیا یو کال وروسته په جلال اباد کې د د لوې میاشت وه، د پلار په اشاره او توصیه دغه اوږده منظومه څه لنډه شوه او په دوه سوه اته اویا بیتو کې یې دمثنوي بڼه پیدا کړه.**

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "دکونړ سیند" د ازاد شعر بڼه

**داسې وه:**

**بینوا ته اهدا**

❁❁❁

**که دې راکړه شرابونه دریابونه**

**په کاسو د اسمانونو**

**په سرو وینو د شفق رنګ**

**که نشه شوم، لیونی شوم**

**نو کیسه به درته وکړمه ستا خپله، زما خپله**

❁❁❁

**ته با درده بینوا یې**

**د پښتو ژبې باچا یې**

**خدای دې ډوب کړه**

**ستا سندره مې په غوږ کې انګازه کړي**

**ښه سندره د ځوانۍ ده**

**ښه پیغام د زلمیتوب دی**

**تاویلې: "غلی غلی انقلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ"**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا رازونه، دا خیالونه**

**څاڅکي، څاڅکي تویېدل د زړه پیاله کې**

**بیا پیاله شوله لبریزه**

**بیا دریاب شو**

**دا زما د زړه دریاب شو**

**در روان شو...**

**خدای دې ډوب که**

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پــــلار ته

## (دوهمه بڼه)

۱- پـلاره! تــاوې: "ستــا اشعــار ډك لــه پيغامــه
خـــوازاد دي، ټنـــگ ټکـــور دې بـــې مقامـــه
۲- لـږ يـې پـوخ كـړه، لـږ يـې وزن كـړه تمـامه
نـــو بـــه هلـــه ستـــا خبـــره نـــه وي خـامـــه))

❁ ❁ ❁

۳- نـو د ( زړه درياب)) مـې بيـا منبـع تـه ستون كـړو
خپـل داستـان مـې لـر و بـر دلتـه مـوزون كـړو
۴- بيـــا يـــې واوره لـــه اغـــازه تـــر انجامـــه
در تـــه ښـــكاري اوس تمـــام كـــه نـــا تمامـــه؟

جلال اباد، د دلوې دوولسمه
كال ( ۱۳۵٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکونړ پر سیند تقریظ

*د پلار جوابیه پیغام*

گـــرت آیـــد یکـــی جـــویی روان پیـــش
مـــــدد بخشـــــش زاب دیـــــده خـــــویش

❁ ❁ ❁

چې دخـولې هـم د بابا جـي وځـي اواز دی
نـــوم دیـــو وینـــا خبـــرې، د بـــل ســـاز دی

دوینـــا مطلـــب: خبـــر، هـــدف، پیغـــام دی
موسیقـــــي واړه آهنـــــگ تـــــال او مقـــــام دی

چې یـو ځـای سره هـم وزن هـم پیـام شـي،
شعر یې نوم شي چـې مـوزن د چـا کـلام شـي

هـــر پیـــام خـــو پـــه مثـــال وي د شرابـــو
او وینـــا وي لکـــه جـــام د مـــی نابـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــې شراب یـــې وي رڼـــه پیـــاله خیـرنـــه
د ســاقي بــه یــې څــوك ونــه کــړي ستاینــه

کــه دې مــی وي ډېــر رڼــه نشــه یــې ډېــره
خـــو د لـوښـــي صفـایـــي دې نـه کــړې هیــره

وسیـــله غـایــه بېـــل نـــه دي یـــو تـــر بلـــه
واســـطه لا څـــوك پیـــام ګڼـــي پخپلـــه

ستا خـو دا شـراب ډېـر ښه دي هـم یـې جام ښـه
هـــم وینـــا دې ده مـوزونـــه هـــم پیـــام ښـــه

سید شمس الدین " مجروح"
جلال اباد
دلو- ۱۸مه ۱۳۵٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاروی

۵- دکــــونړ ازاده سیــــنده! مســـت خـــراب یـــې
ناپـایــــاب لکـــــه زمــــا دزړه دریـــــاب یــــې

٦- نه دمــه کــړې، نــه دریـــږې، نــه ارام کـــړې
نه دې شـاته، نــه دې خـواتــه نظــر پــام کـــړې

۷- هـــی بهیــږې شـــور ماشـــور کـــړې تــر ابــده
مــــا ورا ددې دنیـــــا لـــــه ښــــه او بـــــده

۸- هـــی روان یـــې درومـــې درومې تـــل ترتلــه
ابــــدي ســنــــدره وایـــــې خـــــوږه خپـــــله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درياب

۹- زه راځمــــه د پاميــــر لــــه هســـك ســــواده
د پـرپانــــــو، د دېـوانـــــــو لـــــــه هېـــــواده

۱۰- دغــه ســيمه زمـا سيمـــه لــــه مـــا ښـــاده
دا دنيــــا زمــــا دنيــــا، پــــه مــــا ابـــاده

۱۱- دا ستـا نـونـه دمـرگ ژونـد راســره روان دي
هـــم دنـــن، هـــم دپـــرون، دهـــر زمـــان دي

۱۲- زه يـــې ورمـــه تـــل ترتـلـــه پـــه دا لـــوري
سمنـــــدر كــــې ډوبـومــــــه هلتــــــه دورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاروی

۱۳- اې زمـــــا د زړه دریابـــــه نـــــا ارامــــــه!
دابـــد پـــــه لـــــوري درومـــــې بـــــې انجامـــــه

۱۴- هـــی روان یـې تـه خپـې، خپـې داســتان یـــې
هـــم دنـــن، هـــم دپـــرون د هـــر زمـــان یـــې

۱۵- ســتا ســاحل کـې کـړې مـا ډېـرې خـاپـــوړې
کلاگـــې د شـــگو مـــا کـــړې ډېـــرې جـــوړې

۱٦- ســـتا پـــه غـاړه مـــا وهلـــې ډېـــر دانگـونـــه
مـــا پـــه خـــوب همـیش لیـــدلي ســـتا موجـــونه

۱۷- ســـتا بهـــیر تـــــه مـــــا کتلـــــې پـــــه وار وارې
ســـــتا گـــــودر ځـــــای د دیـــــدار و د دلـــــداری

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸- څه موده وم ستا نه لرې پرېوتلی**
**طالبې پسې وم دورې، دورې تللی**

**۱۹- د سیندونو، دریابونو پورې غاړه**
**ما ملکونه، هېوادونه ولید واړه**

**۲۰- شاگردي مې ډېره وکړه دپوهانو**
**د فرنگ د استادانو، عالمانو**

**۲۱- اوس له ډېرې مودې وروسته خپل دیار ته**
**یم راغلی ستا ساحل ته، ستا دیدار ته**

**۲۲- خوگومان مې هر گز نه شي چې به تېرې**
**دا مودې، مودې کلونه دومره ډېرې**

**۲۳- ځکه ستا جهان ثابت، هر څه ثابت دي**
**ځنگل،غرونه هم په هغه شان ساکت دي**

**۲۴- ته هم هاغه شان روان یې په بې لارې**
**کله کوږ ځې، کله سم، کله په قار یې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵- کله چوپ شې غلی غلی خپل ځان خپـور کـړې
کلـــه کـــاږ بانـــدې ورخيـــژې شورماشـــور کـــړې

۲٦- دايمـــي سنـــدره وايـــې پـــروا نـــه کـــړې
که څوك غوږ ږدي کـه يـې نـه ږدي سـودا نـه کـړې

۲۷- هـــر طـــرف تـــه يـــې روان بـــې التفـــا تـــه
نـــه نظـــر کـــوې وخـــواته، نـــه دې شاتـــه

۲۸- هـی روان يـې درومـې، درومـــې تـــل ترتلـــه
ابـــدي سنـــدره وايـــې خـــوږه خپـــله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لرغونو افسانو
# قهرمان

۲۹- هلتــه وړانـدې سـتا تـر ځنګـه يـو بزګـر دی
پخـــوانۍ زړې جـــامې پـــټکی پـــه سر دی

۳۰- هـــم ترمخـــه يــې قـــدم، قـــدم روان دي
پخـوانـــــي زاړه،زاړه ډنګــــــر غـوايـــــان دي

۳۱- پــه څــادر يـــې مـــلا تړلـــې ګـــرځېده کـــا
دپټکـــي شمـــله يـــې شـــاته رپېـــده کـــا

۳۲- پخوا ځغاست دی خپل پټي کې په ماله سپور
اوس هـم ګـرځي، دا يـې ژونـد دی دا يـې زور

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳- کــــه لرغــــوني قهــــرمان دافســــانودی
مــــرګ یــــې نشتــــه پربښــــته د اسمانــــو دی

۳۴- داسـمان پــه شنــو دښــتو کـې ځغلـوي تـل
عــــراده د لمــــر ځــــلانده چــــلوي تــــل

۳۵- دا جهان چـې ابـدي دی حـال ويجـاړ کلـك
داد غــــوايو پــــه ښکــــرو دی ولاړ کلــــك

۳٦- دی ثابـت، عـالم ثابـت هــر څـه ثابـت دي
دی سـاکت، جهان سـاکت هر څـه سـاکت دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قیامت استازی

۳۷- هلته پورې غاړه پروت و یو لوی کلی
اوس هم پروت دی په شنو ونو کې پټ غلی

۲۸- هم تر شا یې هدیره وه شړ ډاګونه
اوس هم هغه هدیره شته هغه غرونه

۳۹- دازل بانګي لګیا هلته اذان کړي
ابدي ناشنا پیغام،اشنا بیان کړي

۴۰- سپوږمکۍ اوس هم غاړې تر ابده
ماورا د مرګ او ژوند له بنه او بده

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۱- پـورې غـاړه سـپين جــومات لـوی چنـاران دي
هلتــه ناســت د کلـــي خلـــك چـــوپ حيـــران دي

۴۲- يـــو مـــلا هلتـــه ولاړ دی هيبـــت ناکـــه
ســـپينه پگـــه، اوږده ږيـــره، جامـــه پاکـــه

۴۳- ننـــدارې د بـــل جهـــان خلکـــو تـــه ښـــايي
دا استـــازی د قيـــامت ټولـــو تـــه وايـــي

۴۴- د دنيـا زحمـت تـرې سـپك دی لـه حبابـه
کـــه خبـــر شـــې دخپـــل قبـــر لـــه عذابـــه

۴۵- ســـتا دپـــاره لمبـــه شـــوي دي اورونـــه
سورانــــــگار، سرې سکروټـــــــې تنــــــورونه

۴۶- لړمـــان يـــې ملکـــان دي حـاکمـــان دي
نورمـــــاران پهـــــره داران تحصـــيلداران دي

۴۷- لار دې نشـته بلـه چـاره هـېڅ نـه مـومې
گــوره نــن دی کــه سبــا تــه بــه وردرومـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۸- دا دنیـــا فانـــي سرای دی ورتـــه شـــاکړه
دا ژونـدون نـن او سبـا دی ځـان فنـا کـړه

۴۹- دا ژوند هېڅ، عزت یې هېڅ مال او دولـت هـېڅ
زحمـت هېڅ، محنت یې هېڅ، زیـان او ذلـت هـېڅ
۵۰- وخـــت اخـــره زمـــانه قیـــامت نـــږدې دی
د محشـــــر د ګیـــرو دار ســـاعت نـــږدې دی

۵۱- د دنیـا مـال پایښـت نـه لـري هېڅـا تـه
ګـــوره ونـــه کـــړې امیـــد نـــن او ســبا تـــه

۵۲- دا خـــبرې پـــه پېـــړو پېـــړو قرنـونـــو
خلـــك اوري چـــوپ د زړونـــو پـــه غـــوږونو

۵۳- پـــرون ناســـت و دا کیســـه یـــې اورېدلـــه
نـن هـم ناست دی هـم بـه ناسـت وي تـل ترتله

۵۴- زه هـــم وایـــم دغـــه زوړ داســـتان رښـتیا دی
ځکـــه دغـــه کـــوم جهـــان چـــې د مـــلا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۵- دا دنیـــا چــې دحاکـــم ده د ســــردار ده
د بـــــادار ده، د ســــــرکار، د فـرمـــــــاندار ده

۵٦- دا دنیـــا کنـــډو، کنـــډو اخــــر ورانېـــږي
بــل جهــان د بــل انســـان بـــه تـــرې جــوړېږي

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ازلي گناهگار

۵۷- هلته دورې پاس په پوله یــو ځــوان ښــکاري
کــوټوالـــــي ورسره پـــــه لارې روان ښــــــکاري

۵۸- پــــه وهـــــلو، ټکـولـــــو، ټېـــــل وهلـــــو
سینـــده! ســتا تـــر خنـــگ و روان پــه لاره تللــو

۵۹- دی پـــرون هــم ځغلېـــده نــن هــم ځغلېـــږي
دی پـــرون وهـــل کېـــده، نـــن وهـــل کېـــږي

٦۰- ســـتا جهـــان ثابـــت جهـــان دی بـــې تغیـــره
بـــې انصافـــه، بـــې وجـــدانه، بــــې ضمیـــره

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦١- گناهگـــار تـــل گناهگـــار وي تـــر قيامتـــه
د عــــــذاب ملكـــه تـــل پـــرې مسلطـــه

٦٢- كلـــه اورم حٔينـــې خلـــك بيـــا دروغ واى
چـــې دنيـــا پـــه يـــو حـــال نـــه ده اونـــه پـــاى

٦٣- مظلومـــان را پـــه قـــاريږي انقـــلاب كـــړي
د ظالمـــو، مستـــبدو ســـره حســـاب كـــړي

٦۴- دا ټول دروغ دي دا خطا ده ټـول هـزيان دي
ستا جهـان بـل شـان جهـان ثابـت جهـان دى

٦٥- تل ثابت دي، تـل ساكن دي پـه يـو حـال دي
بـــې تغييـــره، بـــې تبـديلـــه، بـــې زوال دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خندا سیلاب

٦٦- دپرون په شان دا اوس هم ستا په غاړه
د هېواد کوچنیان لوبېږي همه واړه

٦٧- په پستو بخملي شگو کړي دانگونه
دمرغو په شان وهي وزر څانگونه

٦٨- یوه وړه جینۍ سا نیولې بېر سرې
سور کمیس، څېرې گریوان سترگې چغرې

٦٩- خاندي خاندي په موړه باندې دپاسه
په ځان شگې بادوي په دواړه لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۰- ځـواب نـه وایي چـې هـر څو ترې نه سوال کړم
خـــاندي، خـــاندي چـــې پوښتنـــه د احـــوال کـــړم

۷۱- دا خنــدا نـــه ده تــوپـــان دی کـــه سیـــلاب دی
لــــــوی محشـــــر دی، زلـزلــــــه ده انقـــــلاب دی

۷۲- پـاس اسمـــان کـــې مـــوکل ملـــك حیـــران دی
هلتــه ناســت دی پـــټ د ځـــان ســـره گـــویان دی

۷۳- مـــا خــــو دلتـــه خنـــدا نـــه وه پیــــدا کـــړې
داد کـــومــــــــه ده راغـــــــــلې چـــــــا راوړې؟؟

۷۴- اې وړې جیـــنۍ تـــه څـــرنگ یـــې خنـدانـــه
پـــه رښـــــتیا چـــې تـــــه وړه یـــــې تـــه نـادانـــه

۷۵- ولـې؟ خــاندې اې دلبـــرې بس کـــه بـس کـــه!
خــدای تـــه گـــوره د زړه ســـرې بس کـــه بـس کـــه!

۷٦- خبـــر نـــه یـــې ســـتا وطـــن دی دغـــم ځالـــه
یـــو قهـــار حـــاکم همیـــش پـــرې ناســـت برحالـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۷- دا ستـــا ملــك دغضـــب ملـــك دی پرېشـــانه
ســـتا د ملـــك خـــاوند قـارندوكـــی دی بېشانـــه

۷۸- اې زمــــا د زړه دريابـــــه دا سيـــــلاب دی
دا خنــــدا نـــــه ده تــــوپان دی انقــــلاب دی

۷۹- زه لاهــو شــوم ستــا ځپــې شـوې پـه ماتېــرې
افســــانې د سيــــاست شــــوې رانــــه هېــــرې

۸۰- دا خنـــدا عجيـــبه رازدی تفسيــــر غـــواړي
دا خنــدا پرېشــــان خـــوب دی تعبيــــر غـــواړي

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درياب

۸۱- زه راځمـــه د پاميـــر لـــه هســـك ســـواده
دپريانــــــو دديوانــــــو لـــــه هېــــواده

۸۲- داستانـــونه دمـــرگ ژونـــد راســـره روان دي
هـــم د نـــن، هـــم د پـــرون، د هـــر زمـــان دي

۸۳- زه يـــې ورمـــه تـــل تـرتلـــه پـــه دا لـــوري
سمنــــــدر كــــــې ډوبومـــــــه هلتـــــــه دورې

۸۴- دا خندا خـوب او خيـال نـه دی حقيقـت دی
دا خنـــــدا ســـــاده پيغـــــام د طبيعـــــت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۵- دا چــې تــه زمــا بهيــر كــې دوام وينــې
دې جهــان كــې ابــدي شــان قــوام وينــې

۸٦- دغــه خــوب دې تعبيــر غــواړي دز ړه ســره
دغــــه خيـــال دې افسانــــه ده ســـرا ســـره

۸۷- زه يــې وړمــه تــل ترتلــه پــه دا لــوري
سمنــــدر كــــې ډوبــومــــه هلتــــه دورې

۸۸- دا خنــدا زمــا خنــدا پــر مــا خنــدا ده
مسخـــره ستـــا دخـويونـــو پـــه دنيـــا ده

۸۹- دا خنــدا ده بــس يواځــې يــوه خنــدا ده
د جهـــان او د ژونــــدون همـــدا مانـــا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاروی

۹۰- اې زمـــا د زړه دریابـــه راتـــه وایـــه
ستا پـه غـاړه یـو انسـان پـروت دی بـې ځـایـه

۹۱- پـه دې سیمـه کـې میشـته لـه ډېـره وختـه
پـه تـن لـوخ پـه ګېـډه وږی تـل بدبختـه

۹۲- پـــه دې وږې تشـــه ګېـــډه ناتـوانـــه
ښـــخ ویـــده دی کـــړي خـــوبونه پرېشـــانه

۹۳- دا انسان څه شان انسان څـه یـې راحـت دی
دا خـوبـــونه تعبیرغـــواړي لـــوی زحمـــت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۴- مـــا ملکونـــه هېوادونـــه ډېـــر ليـدلـــي
هنـګامـــــې دانقـــــلاب مـــــې اورېدلـــــي

۹۵- هلتــه دورې چـــې دنيـــا بيـــا رڼـــا کېـــږي
ا، چـــې لمـــر ځـــي سمنـــدر کـــې پنـاه کېـږي

۹٦- هلتـه شـور دی غلغلـې دي کـوم توپـان دی
يـــو جـاکـــړ تـــرې هيبـــت ناکـــه را روان دی

۹۷- دا توپـان شي لـوی لـوی غـــرونه لـړزولای
شي سينـــــــدونه، دريـابـونـــــــه وچـــــــولای

۹۸- هم داور پـه شـان لمبـې کـوي سيځـل کـړي
هـــم ګـــرداب دی ښکتـــه، ښـکته ډوبـول کـړي

۹۹- راروان دغـــه ســـېلاب دی پـــه دې لـــوري
غـرهـــــار يـــــې همـــــدا اوس اورم لــــه دورې

۱۰۰- دا انسان چې دلته پـروت دی سـتا پـه غـاړه
خبـــــر نـــــه دی لـــــه ســـــيلابه کـــــور ويجـــــاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۱- ځـم ورځم ورته به غږ کړم چې بېـدا ر شي
دعـــالم لـــه ټيـــټ او پاســـه خبـــر دار شـــي

۱۰۲- يـا بـه دی اخـر خـبر شي لـه خپـل ځـانه
يـا بــه مــا هــم ځــان سره ورك كـړي لـه جهانـه

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درياب

۱۰۳- ويل کېږ ي کـه ترخــې، ترخــې خبــرې
يـــا خبـــرې وي خـــوږې لکـــه شکـــرې

۱۰۴- خو بيـا هـم خــوشې خبـرې دي خبـرې
افســـانې خـوشـــې کيســـې دي او منـــترې

۱۰۵- انقلاب نـه هــم کيســه داستــان جــوړيږي
مخلـوقــات پـــه دې کيســو بانــدې بدلېــږي

۱۰٦- کــه د بــل جهــان مــاران او لـړمــان دي
روزل شــــوي پـــه نهادکـــې دانســـان دي

۱۰۷- لا شـعور لــه تـروږمــو راپـورتــه کېــږي
داستانونـــه افســـانې تـرېنـــه جـوړېـــږي

۱۰۸- زه يـې راوړم دهسکـو غـرو لـه رمـز ابـاده
د پريانـــــو د ديـوانـــــو لـــــه هېـــــواده

۱۰۹- بيـا يــې وړمــه تـل ترتـله پــه دا لــوري
سمنـــــدر کـــــې ډوبـومــــه هلتـــــه دورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنتيان او دوزخيان

۱۱۰- دې هېــواد زوړ دورانـونــه ډېـر ليـدلــي
داسـتانونـــــه يـــــې بېشمــــــاره اورېدلـــــي

۱۱۱- لــه لښکـــي نـــه عجيبـــه خلــك راغلـــي
پـــه دې غـــاړه خپـــاره شـــوي پورتـــه تللـــي

۱۱۲- دوی راوړل رسالتـونــــــه درمنـدونـــــــه
پـــه ښـاخـــو ښـاخـــو شپــندل دوی پيغـامـــونه

۱۱۳- پـــه درو، پـــه ســـردرو، بانـډو دېـــرو کـــې
هـــم پـــه غـــرو رغـــو، پـــه کليـــو هـــدېرو کـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱۴- پیغامـونه مفـت وړیـا ویشـل کېـدل تـل
خـو کنـدوان بـه هـم د خلکـو تشېـدل تـل

۱۱۵- ددې ستـرو پیغـامو ډگـر تـه تللـي
ډېـر چرگانـو خپـل سرونـه دي بایللـي

۱۱٦- ډېر غـوایانـو خپـل ځـانونه قتـلان کـړي
ډېـر پسـونو خپلـې غوښـې قـربان کـړي

۱۱۷- سپیـن ځـادري اوږد ږیـري ملایـان وو
دا غـټ خیټـي او غـټ پگـي جنتیـان وو

۱۱۸- هـم پـی مخـي طالبـان لکـه غلمـان وو
ډلـې ډلـې بـه پـه دوی پسـې روان وو

۱۱۹- وعظ نصیحت امر معـروف و پـه کمبختـو
گمراهـان بـه سمېـدل پـه سمـو لښتـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۰- بیـا بـه لـویې لـویې ډلـې وې د چڼـو
تـــا بــــه وې لکــــه سیلونـــــه د چڼچڼـــــو

۱۲۱- پـه فصـلونو درمنـدو بـه شـو ورخــوشي
ټولــول بـــه یــې غنـــم، جـــوار، اور بشــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عذاب پرښتې

۲۲۲- یووخت راغی را پیـدا لـوی لـوی پیـران شـول
دا عجـــــاز د کـراماتـــــو خـــــاوندان شـــــول

۲۲۳- ورمعلـــوم ډېـر، ډېـر رمـزونـــه پـټ پنهـــان وو
پیغـامـونـــــه ورســـــــره د بـــــل جهـــــان وو

۱۲۴- پـــه اسـونـــو بـــه سپـــاره وو پادشـاهـــان وو
مـریـــــدان لښکـــــر، لښکـــــر پســــې روان وو

۱۲۵- د ذکـرونـــــو، تکبیـرونـــــو غـرهـــــار وو
د حلـــــوا د پـولاونـــــو خـــــوان تیـــــار وو

۱۲٦- ســـاز ســـرود، مینـــه مستـــي لـــویه گنـــاه وه
هـــــم حـرامـــــه وه، خنـــدا وه کـــــه نخـــا وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۷- بیا به ځینې ځینـې خلك گمراهـان شـول
ځینـــې نـــور بـــه لا بدتـــره کافـــران شـــول

۱۲۸- دکافـــرو د بـــې دینـــو مـــرگ روا شـــو
د گمراهـــو کـــور بـــه وران مـــال بـــه تـــالا شـــو

۱۲۹- داپیـــران، خـدمتـــگاران لـــوی دمحشـــر وو
دعـــــــذاب د ملايکـــــــو اشرگـــــــر وو

۱۳۰- گمراهانـــو پـــه دې ژونـــد عـــذاب لیدلـــو
د عـــــذاب د پرښتـــــو بـــــار سپکېدلـــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو داستان

## *((سمندر)) د لمبې غېږ کې*

۱۳۱- گـوره گـوره زمـا خـوا تـه پـه دې لـوري
کنډوالـــې کنـــډرې ښـــکاري هلتـــه دورې

۱۳۲- دغـه ځـای يـوه کـلا کـور د بزگـر و
يـوه يـې ښځه ډېر کوچنيـان خـاورې پـه سـر و

۱۳۳- ډوډۍ کمـه، زمـکه کمـه حاصـل کـم و
د وږو د وږې گېـــډې ورســـره غـــم و

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۴- یــو صــفت بــد پیـــدا کـــړی دې انســـان و
یـــــو عـــــادت بـــــد اخیســــــتی دې دهقــــان و

۱۳۵- دلــوی پیــر مسلــم حــق ســودا یــې نـه کـړه
د لنگـــــر د شکــــــرانې پــــروا یــــې نــــه کــــړه

۱۳۶- پیر ته یې نه وروړې دانــې نه چــرگ چــرگوړي
نـــه هگـــی پخــــې او مــــې، زرکــــې سیســــوړي

۱۳۷- پیـــر خپـــه و مریـــدان ورتـــه پـــه قـــاروو
هلتـــه ناســـت دکـــوم فـــرصت پـــه انتظـــار وو

۱۳۸- دا ســړی خــوارې مشهــور کـړو هــرې خـواتــه
چـــې ممســـك دی، وهـابــــي دی دا بـــد ذاتـــه

۱۳۹- مـریدانــــو پســــې نــــوره کـــړه لا زیاتـــه
چـــې خالـــي نـــه دی ســـړی لـــه هـــر پساتـــه

۱۴۰- دا سړی خـوار یې مشهور کـړو چـې بـد کـار دی
لــوی مفســـد دی، هـــم ســود خــوره زنـــا کــار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۱- ترخـــو تــول د سیمـــې خـــلك شـــولو بېـــزاره
ګوابنــــېدل تـــول خـوتکېـــدل ورتـــه لـــه قـــاره

۱۴۲- بلـــه ورځ، ورځ دجمعـــې میـــاشت دبـــرات وه
دتمـــــام وګـــــړو غـونــــډه پــــه جـومـــات وه

۱۴۳- چې لمـونځ خـلاص شـو یـو ناڅاپـه دربهار شـو
د ذکـرونــــــو، تکبیـرونــــــو غرهـــــار شـــــو

۱۴۴- مریــــدانو لښـــکر وکـــړو لــــه یــــو ســــره
لاړل تـــاو شــــول لـــــه کـــلا نــــه نــا بیـــره

۱۴۵- مـــریدان لکـــه پړانـــګان هـــدف یـې ښـــکار و
د ذکـرونـــــــو، تکبیـرونــــــــو غـرهــــــار و

۱۴٦- چـې کتـل خلکـو پـه دې طـرف دې لـور تـه
یـــو ناڅـاپــه لــه کـــلا شـــوې لمبـــې پـورتــه

۱۴۷- کـوچنیـــان، ښځـــې وو پـــه دغـــه ورځ وتلـــي
چېـرتـــه تللـــي، پنهـــان شـــوي تښتـېدلـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۸- خـــړ بزگـــر غـــریب پـــه دغـــه ورځ بیمـــار و
پـــروت پـــه کـــټ کـــې ناتـــوانـــه هغـــه خـــوار و

۱۴۹- هلتـــه پـــروت و بـــې درملـــه بـــې درمانـــه
خـوځېـــدی لـــه ځـایـــه نـــه شـــو ناتـوانـــه

۱۵۰- ځـولـــه ځـانـــه خبـــرېده شیبـــې وې تېـــرې
ســـرې لمبـــې د اور لمبـــې شـــوې تـــرې چاپېـــرې

۱۵۱- دی راپاځیـــده لـــه کټـــه هـــك حیـــران شـــو
هلتـــه ودرېـــد څـوراتـــاو تـــرې سورنیـــران شـــو

۱۵۲- مخلـــوقات یـــې وو راغلـــي` تماشـــې تـــه
دی ولاړ و هـــی کتـــل یـــې ســـرې لمبـــې تـــه

۱۵۳- دلمبـــــې عجـــــب رفتـــــار و تللـــــه تللـــــه
هـــا بزگـــر تـــه پـــه نخـــرو، نخـــرو ورتللـــه

۱۵۴- شیـــن زړوکـــی یـــې پـــه ســـر د لـوگـــي شـین و
ســـره لمنـــه، ســـره خـولگـــی، تنـــدی یـــې سپیـــن و

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۵- لمـــبه لاړلـــه خپـــره دده پـــه پښـــو شـــوه
بیـــا پښـــې یـــې دده ښـــکل کـــړې پـــه زارو شـــوه

۱۵٦- بیـــا لمبـــه شـــوه پـــه نخـــرو نخـــرو ور پـورتـــه
شیـــن پـوړنـــی پـــه ده خپـــور کـــړو دده لـــور تـــه

۱۵۷- ورتـــه غـــاړه پـــه غـــړی شـــوه دا مجنونـــه
تـــرې چاپېـــر شـــول د لمبـــې سره مړندونـــه

۱۵۸- بیـــا د شـــین لـوګـــي د شـــنه زړوکـــي لانـدې
سـرې لمبـې ده تـه خـوله ورکـړه وړانـدې وړانـدې

۱۵۹- سـره خـولګـی تـوده خولګـی وه ګرمـه ګرمـه
پاکـــه پاکـــه ښـــه ځـــلانده نـرمـــه نـرمـــه

۱٦۰- مخلوقاتـــو تماشـــه کـــړه سورنېـــران و
ده دخلکـــو تماشـــه کـــړه هـــك حیـــران و

۱٦۱- بیـــا شـــو ښکتـــه د لمبـــې پـــه غېـږ کـې پرېـووت
د ناشـــنا ســـوزو ګـــوداز پـــه دردو کېـــووت

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦۲- دا دمهـــــر او مینـــــې تـــــږی نـــا قـــــراره
د لمبـــې پـــه غېـــږ کـــې واوښـــت څوڅـــو واره

۱٦۳- تـرڅـــو خـــاورې شـوايـــرې شـــو نـــو ارام شـــو
يـــو داستـــان د ژونـــد او مـــرګ هســـې تمـــام شـــو

۱٦۴- مريـــدانو ووې: توبـــې خلکـــو تـــوبې کـــړئ
عبـــرت واخلـــئ! د صـــلوات جګـــې نـــارې کـــړئ

۱٦۵- د ســـود خـــورو پيـــر رټلـــو داپـايـــان شـــي
د دوزخ اور کـــې ستـــي پـــه دې جهـــان شـــي

۱٦٦- لارويـــه! پـــوه شـــوې څـــوك دغـــه بزګـــر و؟
يــــو موجــــود افسانــــوي و سمنــــدر و

۱٦۷- اور نه زيږي، اور کې ژوند کړي، ژوند يې اور دی
سرکـــوټی ســـره ګـــلان بـــاغ يـــې سمســـور دی

۱٦۸- معشـوقـــه يـــې ســـره لمبـــه ډکـــه لـــه نـــازه
د فنـــا او لـــه مرګـــي نـــه دی بـــې نيـــازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦۹- ددې شنـــې ځمكــې بچـــى دى نافـرمانـــه
لـــه دې شنـــې ځمكـــې رازيـــږي جاويدانـــه

۱۷۰- خـاورې كېـږي، ايـرې كېـږي ځـو ځـو ځله
لـــه ايـــرو راپـورتـــه كېـــږي بيـــا هـــر كلـــه

۱۷۱- بيـا كـرل كـږي بيـا رېبـل كـږي تـل ترتلـه
ابـــدي سنـــدره وايـــي خـــوږه خپلـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوي پیامبران

۱۷۲- پــه دې غــاړو نــن پــرون نــور څــوك روان وو
ډېـــر بـــادرده ننگيالـــي زلمـــي ځـوانـــان وو

۱۷۳- ښــورول يـــې ســـره ځـلانـــده ببرغـونـــه
ورســــــــره وو شعـارونــــــــه، پيغـامـونــــــــه

۱۷۴- وې: موږ خلك يو، خلك زموږ دي اعتصاب كـړو
مـــوږ راغلـــي دكـــار گـــرو انقـــلاب كـــړو

۱۷۵- دا ځوانان زلمي خپاره چـې په دې خـواشــول
تمـــې تمـــې اميـدونـــه راپيـــدا شـــول

۱۷٦- خلكــو ويلــې: دوی بـادرده پــوه ځـوانــان دي
پيغـامـونـــه يـــې هـــم ځـــوان د بـــل دوران دي

۱۷۷- نـوربنتـيا بـه شـور ماشـور گډ د ځـوانۍ كـړي
بتخـانـــې بـــه ړنگـــې پخـوانـــۍ كـــړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۸- دې ځـوانانـــو ســـره نـــوي شـــان الفـــاظ وو
بـــــې شمــــاره شعارونـــــه پــــه بـــــل راز وو

۱۷۹- خــــو بيـــا هـــم زړې ســـندرې دوی ويلــــې
هــــم هغــــه زړې خبــــرې يــــې ويلــــې

۱۸۰- پـــه رښتـــيا چـــې دې زلمـــو ظـاهـــر ځوانـانو
څــــه پېښــــې تقليـــد کـــاوه د انسانانــــو

۱۸۱- دغـــه ځـــوان لکـــه توتـــي غـــوندې گويـــان و
ښـــه ښايســـت رنگيـــن الفـــاظ دده بيـــان و

۱۸۲- الفـــاظ نـــوي خـــو معنـــی هېـــڅ پکـــې نـــه وه
اشـــکال نـــوي محتـــوا هېـــڅ پکـــې نـــه وه

۱۸۳- دوی وې: هـر څــه نـوي نـوي اوس راوړو مـــوږ
پـــه زړو عنعنـــو ځـــان نـــه خبـــروو مـــوږ

۱۸۴- مـــا ويلــــې: اې بـــې فکـــره! بـــې شعـــوره
اې د عقـــل و سړيتـــوب دښمـــن تـــر بـــوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸۵- پــــه زړو کیســـــو چـــې نشـــــي پوهېـــــدلای
نـــــو د زوړ نــــــوي تــوپيــــــر نشـــــي کــــــولای

۱۸٦- نـــو دا ځکـــه د تـوتـــي پـــه شـــان لگيـــا يـــې
زوړ بيــــان کــــړې نـــوي ورتــــه وايـــــې

۱۸۷- تـه خــو وايــې: د پيــشرفت دښـمن دهقــان دی
د کـارگـــــــرو انقـــــلاب رښتيـــــا عصـــــيان دی

۱۸۸- د پـرون واعـــظ خـــو هـــم دا شـــان نظـــر و
دا بزگــــر جاهـــــل بزگــــر ديـــن تـــــه خطـــــر و

۱۸۹- دې ســـــړي تـــــه پرونــــي واعــــظ ويلـــــې:
تــــه ناپوهــــه، تــــه امـــــي يـــــې، تـــــه جاهلــــې

۱۹۰- د امــــام بيــــان قبـــول کـــــړه مسلمــــان شــــه
ځـــــه پــــه پټــــو سترگـــــو مـــــا پســـــې روان شــــه

۱۹۱- ننـنـــــی واعـــــظ اوس وايــــــي: ورکـــــه ايستـــــه!
مـرتجـــــــــــع ايډيالســــــــــــته، فيـوډالســــــــــــته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۲- دوی هــم وایــي چــې اســتاد هســې ویلــي:
مـــا پخپـــله پـــه کتـــاب کـــې دي لیدلـــي

۱۹۳- پـــه واقـــع کـــې داځـوانـــان نـــه و بچیـــان وو
مقلـــد اخـونـــد زاده گـــان حـاکـــم زاده گـــان وو

۱۹۴- په کوم وخت چې د دوی لاس پـه خلکــو بـر شـو
کنـدوان تش، خمبـې شـوې خــیرې حــال بـدتر شــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرتور ملنګ

۱۹۵- دې ځوانانـــو شـــا وخـــوا کتلـــي نـــه وو
هـــم هېڅـــا ورتـــه هـــر ګـــز ویلـــي نـــه وو

۱۹٦- چـــې د عقـــل زوړ حکیـــم سرتـــور ملنـــګ شـته
لا ژونـــدی دی، لا لـــه جهـــل ســـره جنـــګ شتـــه

۱۹۷- دا خـــو هغـــه لـــوی حکیـــم لـــوی قلنـــدر دی
چـــې ظالـــم لکـــه چنګیـــز تـــرې در پـــه در دی

۱۹۸- دهټلـــر خـــونخـــوار منګولـــو کـــې ور پـــرېوت
تـــرې را خـــلاص شـــو خـــو پـــه بلـــه بـــلا کېـــوت

۱۹۹- دسټالیـــــن تـــــوره بـــــلا شـــــوه مسلطـــــه
جېلخـانـــو تـــور زنـدانـــو تـــه شـــو ورښکتـــه

۲۰۰- هـــم ددې بـــلا لـــه چنګـــه بیـــا راســـتون شـــو
ازادۍ پســــــې روان بیـــــا دا مجنــــــون شــــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱- تسلیـــم نـــه شـــو استبـــداد زور اوستـــم تـــه
معشـوقـــــې پســـــې کـــــوزیږي جهنـــــم تـــــه

۲۰۲- کـه شـاهان، کـه سـرداران شـاهنشاهـان شـته
کـــه واړه لـــوی هټــلران شتـــه ستالینـــان شتـــه

۲۰۳- ددې واړو یـــو دښمـــن دی یـــو غلیـــم دی
بـــس یـواځـــې داد عقـــل لـــوی حکیـــم دی

۲۰۴- تـــل دعقـــل لـــه قـدرتـــه پـــه عـــذاب کـــې
شپـــــې خـوبونـــه پرېشانـــه اضطـــراب کـــې

۲۰۵- دې ځـوانانـــو څـــو شېبـــې نـــه وې مـــوندلې
چــــــې زړې خبــــــرې واوري بیـــــا یـوځلـــــې

۲۰٦- زوړ حکـیم وې: پـــه زلمـــي کـــه زلمیتـــوب وي
دســـــــړي د څیـــــرې شاتـــــه سړیتـــــوب وي

۲۰۷- پـــه کـــوم ځـای کې چـې انسـان انسانیت وي
ســــــوز جـذبـــــې وي، ازادی وي حقیقـــــت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۸- نـــو بیـــا هلتـــه دتقلیـــد احتیـــاج نـــه وي
د څېـــرو پېښـــو کاسکیـــټ، پټکـــی تـــاج نـــه وي

۲۰۹- پـه بـل ځـای کـې یـو قـدرت شولـو راپورتـه
هنګامـــې یـــې اوریدلـــې تاســـره لـورتـــه

۲۱۰- دې قـــدرت ابـادې هسکـــې ودانـــۍ کـــړې
بتخانـــې یـــې ړنګـــې ړنګـــې پخوانـــۍ کـــړې

۲۱۱- دا قـــدرت انقلابـــي عقـــل تنقیـــد و،
د یـــو نـــوي ژوندانـــه اســـاس تمهیـــد و

۲۱۲- پـه درانـه خـوب ویـده یـې کـړه بېـداره
داوهـامـــو لیونـــي یـــې کـــړه پـــه لاره

۲۱۳- چـې بیـا راغـی دلتـه راغـی شـو ذلیـله
پخوانـــی نقـــل تقلیـــد شـــو بـــې دلیـــله

۲۱۴- نـــوې نـــوې بتخـــانې راســـازوي اوس
نـــوي غـــټ بتـــان یـــې منـــځ کـــې دروي اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۵- پــه بـل ځــای کـــې پلټـــنه وي پرســـان وي
پـــــه فكـــري مسلماتـــــو كـــــې ايقـــــان وي

۲۱٦- پـه دې ځـای كـې تعصـب شــو عقيـده شــوه
روح بېـــداره نـــه شـــوه بيـــرته بيـــا بېـــده شـــوه

۲۱۷- واى زاړه اوليـــا پرېـــږدئ زيـــارت ځلـــي
نـــوي، نـــوي اوليـــا دي اوس راغلـــي

۲۱۸- خـــاوندان دكراماتـــو داعجـــاز دي
كتـابونـــه نـــازل شـــوي پـــه بـــل راز دي

۲۱۹- پـه اخـلاص پـه پټـو سترګـو غـاړه كېـږدئ
سـجدې وكـړئ ايمـــان راوړئ تپـــوس پرېـــږدئ

۲۲۰- لـــه زردشتـــه، لـــه بـــودا، لـــه برهمنـــه
پـــه پېړيـــو لـــه پرونـــه لاترننـــه

۲۲۱- دغيـــبي الهـــام خـــاوند دعـــوه دارانـــو
د بـــې خدايـــه، دبـــې دينـــه رسولانـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲۲- د بـــې شمـــاره رسـالت ســتر خـاونـدانـــو
دهمــــــــه و پیشـوایانــــــــو، رهبـرانــــــــو

۲۲۳- دا اســتازي چـــې راځـــي ځـــي تـــل ترتلـــه
دلتـــــه یــــوه ســــندره وایــــي، یــــوه بدلـــه

۲۲۴- پــه اخــلاص پــه پټــو ســترګو غــاړه کېــږدئ
ایمــان راوړئ سجـــدې وکـــړئ تپـــوس پرېـــږدئ

۲۲۵- دا کیســـې وې او کیســـې دي افسانـــې دي
ځنـــې هیـــرې، ځنـــې یـــادې ترانـــې دي

۲۲٦- زه یـې لـه ځـانه سـره وړمـه پـه دې لــوري
سمنــــــدر کــــــې ډوبـومـــــه هلتـــــه دورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړه دریاب

۲۲۷- لارویـــه! زه خـــو ستـــا د زړه دریـــاب یـــم
ستـــا د زړه پـــه شـــان ناارامـــه ناپایـــاب یـــم

۲۲۸- مـاتـــه گـــوره زه آزاد یـــم زه مختـــار یـــم
هـــر خـواځـــم کلـــه پـــه لار کلـــه بـــې لار یـــم

۲۲۹- پـه دې خپـل پـراخ بستـر کـې پـرون تللـم
نـــن هـــم هـــر طـرف تـــه رغـــړم ځغلـــم ځغلـــم

۲۳۰- کـــوتې، خـــونې، بانـــډې کلـــي ړنگـومـــه
پټـــي، ځمکـــې، ویالـــې پولـــې ورانـومـــه

۲۳۱- دا انســـان ماتـــه زاري کـــړي پـــرې آفـت دی
دا زمـــــا آزادي ده کـــــــه اســـــارت دی

۲۳۲- دې انســـان خـوهنـــگامې دي تېـــرې کـــړې
افســـانې یـــې اورېدلـــې، هېـــرې کـــړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳۳- سـیلابونه پـرې راغـلي تـرې بـه تېـر شـي
بیـا بـه راشي، بیـا بـه لاړ شـي بیـا بـه هېـر شـي

۲۳۴- تـر خـو پـوه پـه علـت نشـي درنځـونـو
د رښتینـي انقـلاب پـه لـوی رمـزونـو

۲۳۵- دی بـه دا شـانتـې بنـدي د خپـل زنـدان وي
کنـدوتش، کـوچنیـان وړي کـور بـه وران وي

۲۳٦- بـم د عقـل پـه لاس ورکـړه ورزده چـل کـړه
د تنقیـد شـك او تـردید اور ورتـه بـل کـړه

۲۳۷- تنفـر او انزجـار ورتـه بیـان کـړه
دغضـب، قهـر احسـاس ورتـه عیـان کـړه

۲۳۸- دا احسـاس قـوي احسـاس بـدلون راوړی شـي
دا قـدرت دنـن پـروت بـت مـاتـوی شـي

۲۳۹- ورتـه وایـه: لـه خپـل ځـانـه نفـرت وکـړه
لـه خپـل ژونـده منزجـر شـه همـت وکـړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴۰- د غضـــب پـــه اور ايـــرې كـــړه ړنگـــې ړنگـــې
دقـــــــدرت او اقتـــــــدار بتخانـــــــې تنگـــــــې

۲۴۱- نـو بـه هـــله تـــه سـړی شـــې تـــه انســان شـــې
ازادۍ د لـــــوی منـــــزل پـــــه لـــــور روان شـــــې

۲۴۲- لارويـــــه! زه خـــــو ستـــــا دزړه دريـــــاب يـــــم
ستـــا د زړه پـــه شـــان ناارامـــه ناپايـــاب يـــم

۲۴۳- ازاد ځغـــلم، ازاد رغـــړم خپـــل وطـــن كـــې
كلـــه كـــوږ ځـــم كلـــه ســـم د غـــرو لمـــن كـــې

۲۴۴- څـــو ددې بزگـــر بچـــی پـــوه پـــه كـــار نـــه شي
راپانځـــي، راويښ نـــه شـــي، پـــه قـــار نـــه شـــي

۲۴۵- اور بـل نكـړي ددې دښتـــې پـــه اغـــزو كـــې
ستـــي نـــه كـــړي لـړمـــان، مـــاران لمبـــو كـــې

۲۴٦- را وانخلـــي بيـــا كلنـــگ، بېـــل او تسكـــوره
قلبـــه نـــه كـــړي ددې ملـــك ځمـــكه پـــه زوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴۷- د ذهنونو شر ډاګونه اباد نه کړي
په باغونو په ګلونو زړه ښاد نه کړي

۲۴۸- دازاد، ازاد فکرونو نوو
د تازه فکري تخمونو نوو

۲۴۹- کښت ونه کړي له سهاره تر ماښامه
کر ونه کړي ډېر کلونه شامدامه

۲۵۰- دا سړی به پر قرنونو انسان نه شي
هيڅ ازاد به له خپل بند او زندان نه شي

۲۵۱- زه به تل راځم له هسك سواده
د پريانو د ديوانو له هېواده

۲۵۲- داستانونه به زما موج کې روان وي
هم دنن، هم د پرون دهر زمان وي

۲۵۳- زه به يې ورمه تل ترتله په دا لوري
سمندر کې ډوبومه هلته دورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپل ځوان مجاهد زوی ته

# د یوې افغانۍ مور (پیغام)

## د افغانستان د بین المللي پیوستون دورځې په مناسبت

*د مارچ ۲۱ مه ، ۱۹۸۲ کال*

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان په ټولنه کې د شوروي قدرت په مقابل کې د جهاد او ملي قيام له کبله ځينې ژور بدلونونه راغلي دي. (دمور پيغام) په دې منظومه کې ددې بدلونونو دا لاندې اهم اړخونه منعکس شوي دي:

دجهاد او ملي ازادۍ جنګ د خاصو شرايطو په نظر کې:

۱- ديني عقيده نوره هم سپيڅلې کېږي او زيات قوت مومي مثلاً، دکلي ملا د خلکو حقيقي روحاني رهبر کېږي، يو داړه مار غل خپل ځان او مال جهاد ته وقف کوي او په دې شان د خلکو په نزد قدر او منزلت پيدا کوي او کله چې د کلي يو زوړ سپين ږيرى خپله د جهاد فريضه ادا کوي، نو د حضرت ابراهيم عليه السلام قرباني را په يادوي.

۲- د عنعنوي زعامت په ځای، د خلکو له منځه يو نوى ليډر شپ د راوتلو په حال کې ليدل کېږي، مثلاً يو بېکسه آهنګر د قبيلوي خان ځای نيسي او د کلي له يو خوار چوپان (غوبه) څخه ملي قهرمان جوړېږي.

۳- ملي شعور په خلکو کې راويښېږي، مثلاً د ازادۍ د جنګ په دوران کې، حتى د يوې ساده، بې سواده ښځې عواطف ورو، ورو د فردي او محلي نيمګړي احساس له سويې څخه جګېږي او له هغه څخه په ساده او طبيعي توګه يو کلك او بشپړ ملي احساس جوړېږي. په دې منظومه کې د خالص واقعبينانه (رياليستي) روش څخه کار اخيستل شوی دی، هېڅ کوم خيال پردازي، رومانتيکي، احساساتي، مبالغې، تش رنګين الفاظ، وعظ، نصيحت، تلقين ،تبليغ او ياد ليکونکي خپل فردي احساس يا شخصي نظريات او تمايلات په کې نه دي ځای شوي، بلکې فقط د يوه کلي د يوې ساده او بېسواده پښتنې کونډې مېرمنې له خولې څخه هغه څه بيان شوي دي چې د افغانستان په اوسنۍ بحراني ټولنه کې څو واره هر هر ځای پېښ شوي او اوس هم پېښېږي او دا ځکه چې د جهاد په معمولي او عادي پېښو کې دملي ازادۍ جنګ په روزمره کوچنيو او ساده واقعيتونو کې داسې لوی او ژور پيغام پروت دی چې دخپل بيان له پاره د کوم بلاغت او فصاحت قوت ته کوم ايډيولوژيکي تعبير او تفسير تهاو کوم انقلابي تش بيان او لفاظۍ ته ضرورت نه لري.

د جهاد ساده واقعيتونو ساده بيان پخپله انقلابي بيان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوې پښتنې مور خپل مجاهد زوی ته دا پیغام د جهاد سنگر ته لیږلی دی

۱- گرانـه زویـه! رسـتم خـانه! مـور دې ځـار شـه!
ښـه دې چـار شـه! دښـت صحـرا درتـه گلـزار شـه!

۲- زه دې پرېښـودم یواځـې اوس چـې ځـوان شـوې
دجهــاد سنگــر تــه لاړلــې روان شــوې

۳- د طالــع ستــورې دې غـوارمـه ځـلانده
مـل دې خـدای شـه چـې دنیـا یـې پـه فـرمان ده

❋❋❋

۴- ستـا یـادېـږي زمانـه ده ډېـره تېـره
خـوزمـا نـه بـه هېڅکلـه نـه شـي هېـره

۵- ډېـر ورکـوتې، خبـر نـه وې لـه جهـان تـه
پـه خاپـوړو وې قـدم روان تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- څـــه مـــوده وه پـلار دې تللـــی پــه سفـــر و
زه او تــه پــه کــور کـــې ناســـت حـــال موابتـــر و

۷- زه او تـــه یـواځـــې ناســـت وو پـــه درشلـــه
ستـــا د پـــلار د راتـــګ لاره مـــې څارلـــه

۸- تــه وړوکـــی وې لـــه لـوبـــو ســـره دې ســـر و،
هـــم خاپـــوړې دې کـولـــې مازیګـــر و

۹- چـې ناڅاپـه پــه درشـل بانـدې نسکـور شـوې
پــه ژړا پـــه واویـــلا پــه شـــور ماشـــور شـــوې

۱۰- ښـــه مـــې یـاد شـــي تـا ژړلـــې مازیګـــر و
ستـــا پـــه خـــاورو لـوغیدلـــی سپـــېره ســـر و

۱۱- ماراپورتـــه کـــړې پـــه غېـــږ کـــې زنګـولـــې
پـــه خبـــرو پـــه خنـــدا مـــې چـوپـولـــې،

۱۲- چـې ناڅاپـه یـو چـا غــږ وکـــړ لـــه پـورې
جنـــازه کلـــي تـــه راغـــله خلکـــو ګـــورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- ټـــول ور ووتـــو بهـــر تـــه زيـــړی لمـــر و،
تـــا ژړلـــې زمـــا غېـــږ کـــې مازيگـــر و،

۱۴- جنـــازه کلـــي تـــه ورو ورو ور روانــــه
زړه مـــې ټـــوپ کـــړو پـــه سـينه کـــې ناګهانــه

۱۵- جنـازه نـه وه چـې راغلـه لـوی ګـړنـګ و
پـه کـټ پـروت يـو شـا زلمـی پـه وينـو رنـګ و

۱۶- چـا وې: (دا خـو ادم خـان بېرتـه راغـلی!
ځـــوان مېـــړه ددرخانـــۍ دی چـــا وژلـــی!

۱۷- دا ستـا پـلار و چـې يـې بيا غـوره بېلتـون کـړو
د مرګـــي ډاکـــو لـــه لارې بېرتـــه ستـــون کـــړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند کیسه

۱۸- لــــه واده نــــه زمـــا تېـــر وو څـــو کلونـــه
چـــې اختـــر راغـــی پـــه مـــا ســـره بېلتونـــه

۱۹- ښــه مــې یــاد شــي اختــر راغی مــورې خنـدلې
سـتا د پـــلار جامـــې مـــا پاکـــې وې مینځلـــې

۲۰- مـا هـم خپـل کمیس رنـګ کـړی پـه رنـګ ریـز و
سمبـــال کـــړی مــې خپـــل ځـــان ښـــه پـه مکیـــز و

۲۱- اختـــر راغـــی خـوشالـــی وې خنـــدا ګـــانې
نجونـه سینـــد غـــاړې میلـــې تـــه شـــوې روانـــې

۲۲- دا اختـــر زمـــا د ژونـــد د سیـــند پـــه غـــاړو
بیـــا رانغـــی، یـــو وار راغـــی بېـرتـــه لاړو

۲۳- داختـــر پـــه ســـبا پـــلار دې پـــه سفـــر لاړ
پـــــه ناشـــــنا بېګانـــــه لارو د خطــــر لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴- پــه ملکــونو یــو ځــای بــل ځــای ځغلېــدلو
غـــریبي خـــواري یـــې کړلـــه ګرځېدلـــو

۲۵- چې یې زړه په پردي ملك کې تنګ پرېشـان شــو
نـوراستـــون شـــو خپـــل وطـــن تـــه راروان شـــو

۲٦- پــه شــاکړي څــه سوغــات مــال او کــالي وو
څـه پیســې لــږې پــه جیــب کــې لاس خالــي وو

۲۷- داړه مــار لــوی جلادخــان ډاکــو پــه لار کــې
چېرتــه پــټ و غلــی ناســت ورتــه پــه څــار کــې

۲۸- ستــا زلمـــی پـلار یـــې شهیـــد کـــړو ناګهـــانه
مــال سوغــات یــووړ جــلاد ظــالم بــې ایمــانــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# گرانه زویه!

۲۹- دکـوندېتـــــون ژونـــــدون ډېــــر گـــــران وو
تـربـــــوران ســـــړي خـــــواره وړي ليـــــوان وو

۳۰- خــدای تــرې زه همـيش ساتلــم پــه امــان کــې
ډېـــرې سختـــې مـــې گاللـــې دې جهـــان کـــې

۳۱- تاته ناستــه وم چې تـا بــه خــدای رالــوی کـړي
جانشيـــن بـه د خپـــل پـــلار شـــا زلمـــی زوی کـــړي

۳۲- نـــو بـــه زه شـــم اخـــر خلاصـــه لـــه تهمتـــه
لـــــه زحمتـــــه، د ليـورانـــــو لـــــه آفتـــــه!

۳۳- بيـا چـې تـه کلـه رالـوی شـوې دادې حـال و
ستـاســـره يـــوه ســـودا يـــو فکـــر خيـــال و،

۳۴- تـا بـــه ويلـــې: جـــلاد خـــان زمـــا غليـــم دی
دخپـــل پـــلار خـــون بـــه گټـــم دا مـــې تصـــميم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۵- جـلاد خـان تـه خـو دا ټـول ولـس پـه قـار و
چـــې خـونـــکار و داړه مـــار تـــل پـــه فـــرار و

۳۶- چې رالوی شوې ته کټ مټ د پلار په شان شوې
اراســته دنــگ شــا زلمــی ښایستــه ځــوان شــوې

۳۷- ښــکلو نجـونــو زړونــه تـا بانــدې بایلــل تــل
ســـتا پـــه لـــور یـــې د ښـــو لانــدې کتــل تــل

۳۸- تـــه زلمـــی وې شـــا زلمـــی وې حیـــا ناکـــه
غیـرتــــي وې ایمـــاندار لـــه گنـــاه پاکـــه

۳۹- د سپیـــن ږیـــرو مشرانـــو کـــړو عـــزت تـــا
لـــه یارانـــو ســـره اخـــلاص او محبـــت تـــا

۴۰- خپلـه مـور دې هـم سـاتله تـل خـوشالـه
پـه خبـرو، پـه خـندا، د زړه پـه خـوالـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نا اشنا سیلاب

## *ګرانه زویه!*

۴۱- ستا په یاد شي چې یوه ورځ بیا مازیګر و
دواړه ناست و په کاله کې زیړی لمر و

۴۲- چې په کلي کې ناڅاپه شور ماشور شو
کوم نااشنا جګړ په دې سیمه راخپور شو

۴۳- ته ولاړ شولې بیا دې ټوپ کړو په یو ځله
په درشل کې دې پښه بیا ونښتله

۴۴- بیا نړدې و چې په ځمکه راګوزار شې
په ژړا بیا په درشل باندې په قار شې

۴۵- ماته ستا د کوچنیتوب ورځ را په یاد شوه
چې د ژوند دېوه مې مړه شوله برباد شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴٦- تــــه ورکـوټـــــی زمــــا خــــواته لـوبېدلـــــې
یــــو قـــدم نیـــم هـــا خـــوا دې خـــوا نولیدلـــې

۴۷- مـــازیگر و پـــه درشـــل بانـــدې نسکـــور شـــوې
پــــه ژړا پـــه واویـــلا پـــه شــــور ماشـــور شـــوې

۴۸- پـــه دې ســـیمه بیـــا راغلـــی کـــوم محشـــر و
نــــا معلومـــــه هنگامـــــه وه شـــــور و شـــــر و

۴۹- یـــو ځـــل بیـــا کـــوم مصیـــبت پـــه کلـــي گـــډ و
څـــه بـــلا کـــوم تـــور آفـــت پـــه کلـــي گـــډ و

۵۰- تـــه روان شـــوې زه هـــم تـــا پســـې روانـــه
زړه مـــې بیـــا ســـینه کـــې ټـــوپ کـــړو ناگهانـــه

۵۱- زه او تـــــه کلــــــي تــــــه لاړو مازیگــــــر و
شـــور او شـــر و رانـــږدې کـــوم لـــوی خطـــر و

۵۲- خلکـــو ویلـــې: ((دکفـــارو لښکـــر راغـــی
روســـان راغلـــل، لـــوی فســـاد راغـــی شر راغـــی))

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۳- د تـوپـونــــــو د ټانکـونــــــو غـرهـــــار هـــــم
مــــوږ لـــه دورې اورېدلـــو پـــه بـــار بـــار هـــم

۵۴- دا جـاکـــــــــړ ستـــــــــر را روان و هيبتـناکــــــــه
نااشـــــــنا سيــــــلاب بـــــې باکـــــه غضبـناکــــــه

۵۵- مـــازيگر و تـــه راســتون شـــوې بېـــرته کـــور تـــه
دخپـــــل پـــلار لنـــډی ټـــوپك دې کـــړو راپـورتـــه

۵٦- تا وې: مورې خدای دې مل شه خـدای پامـان اوس
کفـــــار راغلـــــل زه جهــــاد تـــــه شـــــوم روان اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کلي ژوند

## *ګرانه زويه!*

۵۷- ته خــو دورې کــوم سنګــر کــې دجهــاد ناســت
لــه ځوانانـــو لـــه يارانـــو ســـره زړه ښـــاد ناســـت

۵۸- زه دې پرېښـــودم يواځـــې پـــه تـــور تـــم کـــې
د دوهـــم ببلتـــون پـــه غـــم پـــه لـــوی ماتـــم کـــې

۵۹- څـه مــوده وم ستـــا پـــه غـم کـــې ډوبـــه ناستـه
نه مې خـــوب، نـــه مـــې خـــوراك و نـــه مـــې ملاسـتـه

۶۰- خــو دا اوس اوس ټـول غمــونه رانــه هېــر دي
د ګاونـــډ ښځـــې همېـــش رانـــه چاپېـــر دي

۶۱- هــره شـــپه مــــوږه دکلــــي ښځــــې نجـونــــه
ډوډۍ ګــــــانې پخــــــوو ډك،ډك شکـرونـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۲- بیـا پــه خــړه د سهــار یــې پـټ پـټ وړو مـوږ
پــه سنگــر کــې یــې زلمــو تــه رســوو مــوږ

۶۳- چــې د لمــر سترگــه راوخیــژي سهــار کــې
لــه بمـونـــو چېـــرته پټــې شـــو پــه غــار کــې

۶۴- د استوگنــې ډېـرې سمڅــې دي پـه غر`و کـې
ښایســـته رڼـــې چینـــې شتـــه پـــه درو کـــې

۶۵- کلـه چوپـه چـوپیایـــي هــر څــه قـلار شـي
بیـــا ناځـاپـــه د توپـونـــو غرهـــار شـــي

۶۶- نجونــه کلــه وارخطــا شــي پــه ژړا شــي
بیــا پــه جـگ اواز خنـدا کـړي بـې پـروا شــي

۶۷- کلـه چــوپ دچــا پــه یــاد زلفــې پرېشــانې
بیـــا د عشـــق سنـــدرې وایـــي دلستانـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جلاد خان ډاکو

## *ګرانه زويه!*

۶۸- زړه مې ډك دى كيسې ډېرې دي بې شانه
هر څه بل شان، دنيا بل شان ده روانه

۶۹- جلاد خان ډاكو اوس هغه بدكار نه دى
دپخوا په شانې اوس داړه مار نه دى

۷۰- خداى په نېغه لار سم كړى مجاهد دى
خونړى دښمن دهر كافر ملحد دى

۷۱- په لومړي صف كې ولاړ دى دجهاد نن
ايمانداره، پرهېزګاره، غل جلاد نن

۷۲- ډېر روسان جلاد وژلي په اخلاص دي
ښې وسلې يې ترې راوړي پخپل لاس دي

۷۳- خلك وايي د جلاد ګناه بې با كې
د دښمن وينو مينځلې صافې پاكې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۴- بلـــــه ورځ د خپـــــلې ډلـــــې پـــــه منـــــنه
زمـــــوږ کـــــور تـــــه پـــــه زارۍ راغـــــی دننـــــه

۷۵- ماتـــه ودرېـــــد، لاس پښـــــې یـــــې رپېدلـــــې
دماشـــــوم پـــــه شـــــان یـــــې اوښکـــــې بهېدلـــــې

۷٦- ویلې:(( خورې زه دخـــدای لـــوی گنـــا هگـــار یـــم
زه جانـــــي یـــــم، زه قـــاتـــــل یـــم، زه خـونـــکار یـــم))

۷۷-(( کـه شهـــید شـــوم پـه جهـــاد کـــې نـــو خـــبر یـم
ځـواب گـویـــه بـــه دخـــدای پـــاك پـه محشـــر یـــم))

۷۸-(( شهـــادت کـــه مـــې نصیب نـــه شـــو ژونـدی وم
دا وعـــده مـــې ده لـــه خـــدای ســـره کـــه ســـږی وم))

۷۹-(( چـــې پخپـــله بـــه ورځمـــه رستـــم خـــان تـــه
ســـربه ږدم دده پـــه مخکـــې تـــول جهـــان تـــه))

۸۰- چې خپل ننگ غیرت پـه ځـای کانـدي راضي شي
دخپـــل پـلار خـــون رانـــه واخلـــي تـــرې غـــازي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "شينا" غوبه

۸۱- آ، زمـوږ دچــم غـوبــه پــه نــوم شينــا اوس
لرګبنـــي غـوبنـــي نـــه کـــړي د هېچـــا اوس

۸۲- پــه شيـــنا پســې نــن ګـرځـــي مـا شيـــنداري
ډېـــر ځـوانـــان ورتـــه ولاړ کتـــار کتـــارې

۸۳- اوس شينا ور ته څـوك نه وايي کار بل شان دی
د شيـــــنا هــــــوا بدلـــــه، قـومـانــــدان دی

۸۴- فرمـانـونـــه يـــې چلېـــږي پـــه هـــر لـــوري
اوازه يــــــې دميـړانــــــې خپــــــره دورې

۸۵- لــه ځـوانـانــو ســره راځـــي زمـوږه کـور تـه
شـپه کــړي تېــره بيــا ورځـــي د سنګــر لــور تــه

۸۶- بيــا پــه شپــو ورځــو پراتـه دوی پـه سنګر وي
پـــه ځنګلـــو پـــه غـــرو رغـــو بېديـــا بهـــر وي

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خان زرين خان

۸۷- ددې کلـــي مشـــر خـــان چـــې خـــان زريـــن و
مال جـايـــداد و خـــدای ورکـــړی اس يـــې زيـــن و

۸۸- هغـــــه لاړلـــــو بربـــــاد شولـــــو رســـــوا شـــــو
کـــور يـــې خلکـــو پـــه اور وســـو مـــال تـــالا شـــو

۸۹- کـلا ړنگـــه هـــر څـــه ټـــول ستـــي پـــه اور شـول
لـــــوړ برجـــــونه هســـــکه غـــــاړه رانسکـــــور شـــــول

۹۰- خلك وايي: زرين خـان دښمـن تـه ناســت دی
دســروانـــو پـــه فـرمـــان پـــه منـــډه ځغاســـت دی

۹۱- څـــه وريـرونـــه پرچميـــان زامـــن خلقيـــان دي
دروســـانـــــــو وفـــــــاداره غـلامـــــــان دي

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوروز آهنگر

۹۲- ستا به دا غلط گومان شي زويه گرانه
چې دکلي دعزت حجره شوه ورانه

۹۳- پيدا کړو خدای يو بل شان د حرمت ځای
دنوروز اهنگر حجره اوس د عزت ځای

۹۴- جوړوي مات ټوپکونه نوروز خان اوس
کارتوسونه ډکوي په هرهر شان اوس

۹۵- دخدای پاك دده په مال ښه نظر پام دی
چې ولاړ تل مجاهد ته لاس په نام دی

۹۶- موره ټول ورسره ولاړيو تر خپل وسه
نور دکلي غريب نه دی نه بې کسه

۹۷- غوړې، غوړې ډوډۍ گانې ورکوي تل
چاغ په شان غټ غواړيان حلالوي تل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تور طالب

۹۸- تـــور طـــالب آ، پـنج پيـــرى مـــلا لانـــور هـــم
مست مست گـــرځي پـــه دې سيمـــه پـه ګاونډ چـــم

۹۹- سرخـريلـــى، اوږده ږيـــره يـــې پـــرې ايښـــې
غټـه پګــه يـــې هـــم پـاس پـــه كـوپـــړۍ ايښـــې

۱۰۰- دكـــوم بـل ملـــك ږيـرور غـــټ طالبـــان تـــل
ډلـــــې، ډلـــې وې پـــه ده پســـــې روان تـــــل

۱۰۱- ځـــې راځـــي وايـــي جهـــاد تـــه يـــو راغلـــي
پتـــــه نشتـــــه كـــــړي كـاروانـــــه غلـــــي غلـــــي

۱۰۲- كلـــه يـــو ووهـــــي هلتـــه كلـــه دلتـــه
كلـــه يـــو تـــه كافـــر وايـــي كلـــه بـــل تـــه

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمد صادق ملا

۱۰۳- نارینــــــه مـــــلا د برکلــــــي استـــــاذ دی
مـولـــوي صـــادق رښتـــیا صـــادق ســـرباز دی

۱۰۴- خـــورې اواز چـــې د اذان پـورتـــه سـهار کـــړي
پـــه درو پـــه ســـر درو کـــې ژونـد بېـــدار کـــړي

۱۰۵- کاڼـــي بوټـــي اللــه وایـــي اکبـــر وایـــي
دخـــدای پـــاك ثنـــا غـــر وایـــي کمـــر وایـــي

۱۰۶- دجهـــاد پـــه لارې خلـــك سمـــوي تـــل
دایمـــــان د عقـــیدت وعـــــظ کـــوي تـــل

۱۰۷- پـــه سنگـــر کـــې دغـازیانـــو امامـــت کـــړي
د جهـاد پـه لـــومړي صـــف کـــې حـــرکت کـــړي

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سور گل معلم

۱۰۸- ستا خو یاد شي دسور گل معلم گفتار ښه
چې به یې ستا سره کولو دار مدار ښه

۱۰۹- ببرسر، څوړند برېتونه، کره خوله
هم کره وږه وینا به یې کوله

۱۱۰- ده ویل: جهان به وران شي دی هم وران شو
دی پخپله سم په ورانه لار روان شو

۱۱۱- چې کفار په وطن راغلل کلي ړنگ شول
ډېر ځوانان پاك شهیدان په وینو رنگ شول

۱۱۲- ولسونه مهاجر شو نور ملکو کې
شوو بې شماره نور وراسته په زندانو کې

۱۱۳- سورگل بیا خلکو ته کړلو دا بیان هم
چې روسان زموږه ورونه دي دوستان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱۴- خلك ټول ورته په قار وو هك حيران وو
په سورګل ناست ليوني شانې پېريان وو

۱۱۵- بيا يې پټ پټ شروع كړى عجب كار و
پټ خطونه يې ليكل دا يې روزګار و

۱۱٦- دغازيانو حال احوال به يې غوندولو
بيا روسانو ته به يې پټ پټ استولو

۱۱۷- دولت خان سود خور به دا خطونه وړل تل
په خپل لاس به يې دښمن ته وركول تل

۱۱۸- ښې پيسې ډېرې پيدا كړې په دې لارې
مال دولت، ددولت زيات شو په څو وارې

۱۱۹- په اخر كې دولت خان او سور ګل دواړه
په شرمونو شرمېدلي بنده غاړه

۱۲۰- يوه شپه له كلي لاړل په بې لاره
جلد په تېښته يې ځان ورسوو تر ښاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ابراهیم ملك

۱۲۱- دسـورګل سـپین ږیـری پـلار پـه کـټ کـې پرېـووت
نــور لــه کــوره نــه راووت پــه شــرم کېــووت

۱۲۲- ابـراهیــم ملــك دعمــر ســل ځــو کالــه
وو تېــر شــوي پــه عــزت بــې لــه جنجالــه

۱۲۳- اوس پــه کــور کــې پــټ لــه قــاره غــرمبېدلو
غلــی غلــی بــه لــه ځــان ســره ژړېدلــو

۱۲۴-ســور ګــل واخیســت لــه روســانو سره منصــب لــوړ
بیــا د بــر ولــس حاکــم شــو بــې سبــب لــوړ

۱۲۵- ډېر غــازیان یــې شهیــدان کــړل ټیــټ او پــاس ده
ډېـر یــې نــور پــه بنــد زنــدان کــړل پخپــل لاس ده

۱۲٦- ولـس هلتــه شــو راپـورتــه تــرې چــا پېــر شــو
دښــمنان ډېــر زیــات مــردار شــول ســورګل ګېــر شــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۷- ســـور گــل لاس ترلـــی راوستـــل شـــو کـــور تـــه
شـرمېدلـــی ســـر یـــې ټیـــټ دخلکـــو زور تـــه

۱۲۸- د سـور گل سپېـن ږيـری پـلار چـې ځنـګ خـبر شـو
نـــو را پاڅېـــده لـــه کـــوره را بهـــر شـــو

۱۲۹- زوړ ټـــوپک یـــې پـــه اوږه کـــړو شمـــله نېغـــه
اوږده تـــوره یـــې تـــر مـــلا کـــړه تېـــره تېغـــه

۱۳۰- ویلـــې: خلکـــو! سـم غـــوږو نـــه راتـــه کېـــږدئ
دا ســـړی زمـــا خپـــل زوی دی ماتـــه یـــې پرېـــږدئ

۱۳۱- ابراهیـــــم خپــــل زوی روان کــــړو نازولـــــی
پـــه یـــوې تېـــرې بانـــدې یـــې کښېنـــاو لاس ترلـــی

۱۳۲- بیـا یـو ځـو شیبې خپـل زوی تـه چـوپ کتلـې
دســـــورگل بـرېتـونـــــه ځـوړنـــــد ژبـــــه غلـــــې

۱۳۳- لـــــوی واړه ځـوانـــــان زاړه وو راوتلــــــي
هـــر خـــوا چـوپـــه چوپیـــایي خپـــره پـــه کلـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۴- ابراهیــــم سپیـــن ږیـــري وویـــل خپـــل زوی تـــه
شـــه قبلـــې تـــه! زاري وکـــړه پـــاك رب لـــوی تـــه

۱۳۵- زویـــــه وایـــــه! اللـــــه یـــــو دی لایـزالـــــه
ســـور گـــل چـــوپ و، بـــې پـــروا ناســـت و بـې خیـالـــه

۱۳٦- زویـــــه وایـــــه! مـــــرگ روا دی د کـافـــــر و
ســـور گـــل چـــوپ و، ســـر یـــې ځـــوړند پـــه ټټـــر و

۱۳۷- زویـــه! ولـــې د کافـــر دښمـــن نوکـــر شـــوې؟
بـــې ایمانـــه، بـــې غیرتـــه، بـــې پـــدر شـــوې؟

۱۳۸- سور گل چـوپ و گریـوان څیـرې سر بـې خولـې
ولـــس گېـــر چـــا پېـــر ولاړ و ډلـــې ډلـــې

۱۳۹- ابـــراهیم لاسونـــه پـورتـــه کـــړل اسمـــان تـــه
عـــرض یـــې وکـــړ ستـــر پادشـــاه د کـــل جهـــان تـــه

۱۴۰- ویلـــې: خدایـــه! زه خـــو ســـتا شکـــر گـــوزار یـــم
ستـــــا د رحـــــم او کـــــرم پـــــه انتظـــــار یـــــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۱- زه بـــــودا یمـــــه ولاړ د گــــــور پــــــه غــــــاړه
ستــــا جهـــاد تـــــه د تـــگ نـــه وم حـــال ویجـــاړه

۱۴۲- تـــا پخپـــل فضـــل جهـــاد راوستـــو کـــور تـــه
درحمـــــــــت نظـــــــر دې وکـــــــړو زمـــــا لـورتـــــه

۱۴۳- اوس پـــه مټـــو کـــې، پـــه زړه کـــې تـــوان همـــت را
پــــــه خپـــــل امـــــر ښــــــه قـــــوت د اطـــــاعت را

۱۴۴- ابراهیـــــم بیـــــا تـــــوره کـــش کړلـــه ابـــداره
ســـور گـــل زوی خپـــل یـــې حـــلال کـــړو پـــه قـلاره

❁ ❁ ❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړه خبرې

## *ګرانه زویه!*

۱۴۵- کــه دخپــل زړګـــي احـــوال درتـــه بيـــان کـــړم
تـــه مـــې شپـــه او ورځ يادېـــږې تـــل خپـــګان کـــړم

۱۴٦- کلـــه کلـــه شيطـــان پـــټ پـــټ راتـــه وايـــي
د دنيــــا ټـــــول راحتـونــــه راتــــه ستـايــــي

۱۴۷- وايـي: زلمـي ځوانـان پـه دې سيمـه ډېـر زيـات دي
ولسـونــــه دجهـــــاد پــــه لــــور رامــــات دي

۱۴۸- ديـــوې خـــوارې کونـډې زوی ولـــې روان شـــي
مـــور تنهـــا پرېـــږدي پـــه فکـــر دخپـــل ځـــان شـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۹- نــارینتوب خـــو داســـې نـــه وي زمـــا جانـــه
پخپــل کـــور کـــې بـــه ســـم ناســـت و پـــه مېرانـــه

۱۵۰- کــه رښتــیا وایــم زړه مـې بـل شـانته بیـان کــړي
پـــه بـــل راز خبـــرې هـــر دم هـــر زمـــان کـــړي

۱۵۱- ډېـــر زلمـــي مجـــاهد ډلـــې ځـــي راځیـــنه
ستـــا تســـل وربانـــدې کړمـــه ســـتا پـــه مینـــه

۱۵۲- څیـــرې څیـــرې جـــامې زه ورتـــه ګنډمـــه
د جنګـونـــــو خـــــاورې دوړې تـــــرې څنډمـــــه

۱۵۳- دلتـــه راشي کـــومه شپـــه نیمـــه کـــړي تېـــره
ماتـــه کښېـــني لـــه نغـــري نـــه ګېـــر چاپېـــره

۱۵۴- ټول ویښ ناست وي پیل کیسې د جنګ جهاد کــړي
پـــه خـــوږو خـــوږو خبـــرو مـــې زړه ښـــاد کـــړي

۱۵۵- زه پـــه زور زارۍ بېـــده دا ماشومـــان کـــړم
د بړستنـــو لانـــدې ګـــرم پـــټ پنهـــان کـــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۶- بیـــا زه کښېـــنم نغــري تـــه اور تـــازه کـــړم
اوړه، غوړي،گـــوره گـــډوډ پـــه انـــدازه کـــړم

۱۵۷- غـــوړ ټیکلـــي خـــو پاخـــه کـــړم تـــر سهاره
کـــړم زلمـــو تـــه د سفـــر توښـــه تیـــاره

۱۵۸- دوی په تور چرگ بانـګ راپاڅېـږي رخصـت شـي
بیـا نـور راشـي بیـا پـه کـور مېـله صـحبت شي

۱۵۹- ماتـه ستـا پـه شـان ښکارېـږي دا ځوانـان ټـول
خپـــل زامـــن زمـــا دغېـــږې ماشومـــان ټـــول

۱٦۰- زړه مـې وايـي: زوی تـه تـا کـړی کـوندټون دی
تـا زغملـــی سخـــت ژونـــدون ظالـــم بېلتـــون دی

۱٦۱- رالـــوی شـــوی پـــس لـــه ډېـــره انتظـــاره
تـــا روزلـــی هـــم ددې ورځـــې دپـــاره

۱٦۲- په ملك ناست اوس سور کافر دی اوس جهـاد دی
د نامـــوس دغیـــرت جنـــګ پـــه دې هېـــواد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦۳- نارینــــه پیــــدا د داســــې جنــــګ دپــــاره
مــــور ځوانــــان روزي د قــــام د ننــــګ دپــــاره

۱٦۴- دښمنان چې برباد نه کړي نو به څه کړي؟
خپل وطن چې ازاد نه کړي نوبه څه کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جهاد سندره

## *ګرانه زویه!*

۱٦۵- ته سپارلی ما په خدای یې مور دې ځار شه
مال د خدای یې هم هغه دې مدد ګار شه

۱٦٦- ستا نه ځار شم شهادت که نصیب ستا وي
په دې کار کې به د رب خپله رضا وي

۱٦۷- که له ملك نه دې بهر کفر الحاد کړو
که غازي شولې وطن دې خپل ازاد کړو

۱٦۸- نو، یوه ورځ به دغازیانو لښکر راشي
ته به راشې بیا به نوی اختر راشي

۱٦۹- دواړه لاس به په نکریزو بیا رنګین کړم
شینکی خال به بیا تازه پاس په جبین کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۰- بیا بــه زه یمــه ســر لــوړې پخپــل کــور کــې
هــم خـوشالــه شــو ژونـدۍ یـم هــم پــه گــور کــې

۱۷۱- پــه گاونــډ چــم پــه گــودر کــې بــه خنـدانــه
مســـته گـرځمــــه پـــــه زړه همیشــــه ځـوانـــه

۱۷۲- بیا بــه گــرځم پــه دې دښـت پـه دې دمـن کــې
هســـکه غـــاړه پـــه ازاد ابـــاد وطـــن کـــې

❁❁❁

گـرانــــه ځـویــــه! مــــور دې ځـــــار شــــه

*(درخانۍ)*

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تـوره بـلا

# يـا

## ناهيد- تيغۍ ته ديوه عاشق له خوا د محبت پيغام

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توره بلا

گردې گردې سترګې تورې
ګوري، ګوري په هر لوري
زرزري و زر ځانګونه
رنګارنګه اوازونه
دا ناهيد نه ده، تيغۍ ده
عجيبه شان ته مرغۍ ده
دا مرغۍ نه ده آفت دی
ورانکارۍ ته يې نيت دی
تبه کاره، دل آزاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دکـوچنو مـرغو خونخـواره**
**په وړه وړه خندا يې مه غـولېږئ**
**په مکري مکري ژړا يې مه غولېږئ**
**دا تيغـۍ لـويـه بـلا ده**

❋❋❋

**لـوټ تاراج بـه کـړي خـوږ زړونه ارمـانـونـه**
**مـوږ بـه نـه يـو**
**امېـدونـه، ارزوگانـې، کـاروانـونـه**
**مـوږ بـه نـه يـو**
**دا به شمع وي بلېـږي، پتنگان بـه پـرې سوځـېږي**
**پـه قـدم، قـدم بـه فـرش ورتـه گلـونـه**
**مـوږ بـه نـه يـو**
**په خندا به وران جهان کړي ، عاشقان به خپل قتلان کـړي**
**وران ويجـاړ بـه کـړي اباد اباد کـورونه**
**مـوږ بـه نـه يـو**
**په نازونو په نخرو يې مـه غـولېـږئ!**
**په زگېروو په اوسيلو يې مه غولېږئ!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شیشـکـه ده، بـلا ده!
دا د چـانه راپیـدا ده؟
داد کـوم خـوا نه راغلې؟
دچا کـور تـه غلـې، غلې؟
اور به کېـږدي دې دنیـا ته
دا ولاړه تمـاشـا تـه
په مکیز او په ادا یې مه غـولېږئ
په شکوه په واویلا یې مه ځـورېږئ
دا تېـغۍ تـوره بـلا ده
اې تېـغۍ! ته څـه افت، ته څه بلا یې!
د دنیا د درد او غمه بې پـروا یې
د پردیس په دې ویجاړ ملك کې پیـدا یې
د هجرت په کنډوالو کې په نڅـا یې؟
❋ ❋ ❋

وایه څـوك یې؟ نازنینـې دل ارامې!
څه پیغام دې پټ راوړی گل انـدامې؟
ته ورړمه شېبه شېبه یې نرمـه نرمـه
ښکلې لـور غنچه غنچه یې گرمه گرمه
نازولې معشـوقه د هسکـو غرونو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د باغونو شنـو د ښتـونو چمنـونو؟**
**ته سبا یې یا سبـا بـاد د سبـا یې**
**را الوتی په میـرو شـړو بېـدیا یې**
**دوباره دې راژونـدۍ کـړې ارزوګانې**
**افسونګرې، معجـزه د مسیحـا یې**
**ښکلې سترګې دې هېـواد د ابادۍ دی**
**خنداګۍ کې دې پیغـام د ازادۍ دی**
**اې تیـغۍ ته څـه بـلا یې؟**
**اې تیـغۍ ته څـه بـلا یې؟**

*پېښور ۲۲ سپټمبر ۱۹۸۵ ع*
*سید بهاو الدین ((مجروح))*
*(ناهید ته)*

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بنګړو شرنګ

هـــر مازيګـــر يــم ګـــودر تـــه تللـــی
مابنـــام غمـــو کـــې د عشـــق ځپلـــی
پـــه نيمـــو شپـــو يـــم پټ پټ ورغلـــی
پـاس پـــه پالنـــګ يـې نېـــغ ورختلـــی،

تـــل اورېدلـــی مابنـــام سهـــار مـــا
د بنګړو شرنګ، شرنګ د خپل دلـدار ما
ورځ لـــه بېلتـونـــه پـــه زړه رنځـــور وم
شپـــې تيـــرې کـــړې پـــه انتظـــار مـــا

کـټ تـــه ورغلـــی پـــه بېـــره ډار يـــم
غېـږ کـې پټ شـوی د خپـل نګـار يـم
تورتـــم تيـــاره کـــې نيمګـــړی عشـــق و
بيـــا يـــې شـړلـــی پـــه خـــر سهـــار يـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زلفو زنځير

ساقـــي را پاځـــه تنـــده مـــې اور دی
راپاځـــه! ناځـــه سر کـــې بـل شـــور دی
زنځيـــــر د زلفـــــو پرمـــــا را خپـــــور دی
د خيال زندان تور، زړه مې ترې تـــور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ساقي

ننګ او ناموس دی نجونو ساتلی
پېغور، پېغور یم تل شرمولی
پاس په مورچو یې زه ورختلی
له شرمه تللی مرګ ته ورغلی

❋❋❋

ساقي راپاڅه تنده مې زیاته
په دریابونو نه شوله ماته
دا اسمانونه پیالې پیالې کړه
ډکې لبرېزې بیا را کړه ماته

❋❋❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوږې سندرې

په تـــوره شپـــه کـې شمعـــه رڼـا کـــا
مـــاوې: مـــاتم کـــا، مـــا وې ژړا کـــا

که پتنـگان دې ستـــي ايـرې شـــول
ماوې: پاکـان دي عشـــق او وفـــا کـــا

خــــــوږې سنــــــدرې، د بلبـلانــــــو
خنـــدا د زرکـــو، شـــور د توتيـانـــو

زمـــا نظـــر کـــې، وې ژړاګـانـــې
غــــم او مـاتـــــم و د عـاشقـانــــــو

❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شینکي خالونه

شینکـــي خـالـونـــه دمـــه جبینـــې،
تنکـــی پېـــزوان شـو هـــار لـونگینـــې
ولـــول د زلفـــو تـــور ښامـــار هـــم
مـاتـــل ستایلـــی د زړه لـــه مینـــې

❁❁❁

پـــــه بهارونـــــو، پــــه خزانـونــــو
باغ او بوسـتان کـې پــه غـرو رغونـو
لیـدلـــي مـــا دي دغـــم رنګـونـــه
زیـــړي رنګـونـــه، دســـرو ګلـونـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شلمې پېړۍ نوموتی افغان روشنفکر، شاعر، لیکوال او مبارز پوهاند سید بهاءالدین مجروح په ۱۹۸۸ د فبروري په ۱۱مه په پېښور کې ووژل شو. هغه ټیک نوي کاله وړاندې د کونړ د اسمار ولسوالۍ په یوه روحاني کورنۍ کې وزېږېد او په کونړ، کابل او فرانسې کې تر زده‌کړو وروسته یې د شرقي عرفان او حکمت او غربي فلسفې او معاصرو علومو په زده‌کړې کې د بې ساري نبوغ له کبله د خپل عصر یو ځانګړی، ممتاز او عالم شخصیت و.

د پروفیسور مجروح صراحت، روشنفکرانه ژمنتیا، او پراخه انرژي یې شخصیتي ځانګړنې وې، هغه د متعددو قشرونو سره په اړیکه کې یو اغېزناک انسان و.

«ناآشنا سندرې» د پوهاند سید بهاءالدین مجروح د شعرونو مجموعه ده. هغه د یو ځانګړي سبک شاعر په توګه چې نه یوازې یې غني مفاهیم او پیغامونه لېږدولي دي، بلکې خپل مهم آثر «ځانځاني ښامار» یې په یو بې‌ساري نبوغ سره په شعري بڼه کښلی دی.

«ناآشنا سندرې» د پوهاند مجروح د 43 شعرونو ټولګه ده چې د وطن، خلکو، ټولنیزو پدیدو او واقعیتونو، او د فلسفي پیغامونو یوه ځانګړې محتوایي سلسله لري.

شاعر:

لاروی د نیمې شپې یم
لرې، لرې مزلونه کړم بې ځایه
بې خبره ورپسې یم
نه پیدا کوم دمه‌ځای ښکاري له ورایه
ستا کمال زما جمال دی
مېین شوی یم پخپله په خپل ځان
لنډه لار دلته وصال دی
د حیوان چینه ده زړه د هر انسان
د نرګس سترګې حیرانې
سرګردانې په سراب د اېینه کې
امیدونه، ارزوګانې
قطرې اوښکې دي د دهر په چینه کې

www.majrooh.org

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**